

# سندريزې څپې

(شعري ټولګه)

مصطفی سالك

لیندۍ ۱۳۸۳ ال کال

# سندریزې چینې

د شعرونو ټولګه

مصطفی سالک

۱۳۸۳ ل کال

د دې کتاب د چاپولو حقوق له خپرندويې ټولنې او شاعر سره خوندي دي.

# کتاب پېژندنه:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | سندريزې چينې |
| شاعر | : | مصطفی سالک |
| خپرندويه ټولنه | : | ميوند کلتوري ټولنه- کندهار |
| د چاپ شمېر | : | ۱۰۰۰ ټوکه |
| د خپرونو لړ | : | (۱) |
| کمپوز او ډيزاين | : | سيف الرحمن کريمزی |
| د چاپ کال | : | ۱۳۸۳ل/ ۲۰۰۴م |

ميوند کلتوري ټولنه- کندهار

برېښناليک : maiwandnet@yahoo.com
ګرځنده ټليفون: 0093(0)70211696

بسم الله الرحمن الرحيم

# اهداء:

د اروابښاد علامه پوهاند
اکاډمیسین عبدالشکور رشاد
سپېڅلې اروا ته يې ډالۍ کوم.

# د خپرندویه ټولنې یادابنت

میوند کلتوري ټولنې، د نورو کلتوري هڅو تر څنګ د "میوند" په نوم دري میاشتنۍ مجله له یو شمېر ستونزو سره- سره بیا هم چاپ او د مینه والو تر ګوتو پورې وررسولې ده. خو د ډېر ویاړ ځای دی چې اوس خپل بل هدف ته، چې هغه د کتابونو چاپ دی، هم رسېږي او په دې لړ کې د هېواد د تکړه لیکوال او شاعر مصطفی سالک شعري ټولګه "سندریزې چینې" چاپوي.

د شعر په اړه په کوزه او بره پښتونخوا کې دا خبره ډېره کېږي چې: "پښتو شعر ډېر سوی دی، باید نثر ته ډېره پاملرنه وسي". خو موږ وایو چې د ښه او ناښه شعر تر منځ باید توپیر وسي. که چېرې ښه شعر ډېر سوی وي، نو هغه د چا خبره "د زوی زېری دی". پرېږده چې ښه شعر نور هم ډېر او د پښتو ژبې شعري برخه غني او بډایه سي. خو که ښه شعر د ګوتو په شمېر وي، نو د دغې خلا د ډکولو لپاره باید نور کار هم وسي او واقعیت هم دا دی چې پښتو شعر ډېر، خو ښه شعر لږ دی.

"سندریزې چینې" هم داسې ټولګه ده، چې زموږ په اند د پښتو ژبې شعري اړخ به لا بډای او وځلوي. نور خپلې خبرې رالنډوو، ښاغلي مصطفی سالک ته د دې اثر د چاپ له امله مبارکي وایو او تاسې یې لوستلو ته رابولو.

په درنښت

میوند کلتوري ټولنه- کندهار

# شوګیر

شپه مهربانه ده
د مور په شان ده
ټوله نړۍ په خپلو ښکلیو طلایي لاسونو
د نور په مراندو
د سکون زانګو کې
لکه وړه ماشومه
د خپل سکوت په الاهو ویده کړي

❀❀❀

شپه مهربانه ده
د مور په شان ده
په پستو ګوتو، بې د ستورو غمي
په ویښو سترګو
د راڼه خوب بارانونه شیندي
خو چې تر ما رارسي
د شوګیر توره چاړه
ګوتې ورپرې کړي او په چیغو یې کړي
خوبونه والوزي، د سترګو اشیانو ته لاړ شي
او تر سهاره زه په خپلو اوښکو
د مهربانې مور، د ګوتو پرهرونه وینځم

# د ننګرهار نسیم

غوټۍ زړه مې د مغرب ګلو کې چوي نور
يو نسيم د ننګرهار زما په نوم کړه
ټول غاټول دې په خيالي اوربل کې ټول کړه
په صحرا کې هر يو خار زما په نوم کړه

●●●

ميخانې د لوڅو نجونو بې مزې دي
د شنو بنګو کروندې مې پر زړه ګرځي
د دوی و اوره هم ترکانو کمه نه ده
سپينې- سپينې پاغوندې مې پر زړه ګرځي

●●●

اشيانې د مشرقي بازانو سوځي
طبيعت د هواګانو تندريز دی
نه ټول عمر ننګرهار غوندې بهار شته
نه باګرام غوندې سپېڅلی سندريز دی

●●●

محلونه يې له مينې نه خالي دي
ايلبندونه او کېږدۍ راته ياد يږي
لوخ بدنې ذ ښايست ذوقونه وژني
درونډ کميس کې مې کوچۍ راته ياديږي

●●●

له گيتاره د ستار خبرې غواړم
لا نغمې زما په هغه سر او تال دي
د "پرنگ" پرده- پرده راته معلومه
څو سندرې راته يادې د "اقبال" دي

●●●

د ختيځ او د لوېديځ لوري يې ورك دي
توري وربځې د هر باد پر مخ خپرې دي
تول وگړي يې رنځوره تصنع ده
څو جلوې يې د فرياد پر مخ خپرې دي

❁❁❁

نــــه پوښــــتنه د رنځـــور او د يــــارانو
نــه پيتــاوي تــه د شــنو چــايو مــزې شــته
غــاړې، غرونــه يــادول خــو لېونتــوب دى
نــه شپونکى، نــه يــې شپېلۍ او نــه رمــې شــته

❁❁❁

د هـــر لاس احــساس پــه گــرم اوړي ســوړ دى
د بيـــد ياتو دې ســـپلۍ راتـــه يـــاد پړي
د تيمـــز غـــاړې، اباســـين راپـــه زړه کـــړى
ســـپينې زانـــې او هيلـــۍ راتـــه يـــاد پړي

❁❁❁

تنورونـــــه، گودرونـــــه دلتـــــه نـــشته
شين لـوگى د سره اسمان پـر لـوري نـه ځـي
يـو بـې هجـره، بـې ريبـاره محبـت دى
هـېڅ سـپوږۍ يـې د جانـان پـر لـوري نـه ځـي

❁❁❁

دلته سترګې جنګول، د ښکلیو نه زده
د شنو سترګو د نمود سوداګري ده
د روحونو اتصال افسانوي دی
محبت د سپین وجود سوداګري ده

❁❁❁

نو!
غوټۍ زړه مې د مغرب ګلو کې چوي نور
یو نسیم د ننګرهار زما په نوم کړه
ټول غاټول دې په خیالي اوربل کې ټول کړه
په صحرا کې هر یو خار زما په نوم کړه.

# بنګ

زما خوږې، زما درنې محبوبې
ستا د خبرو ایتونه ساتم
ما مې د زړه پر پاڼو تول لیکلي
زه به دا ستر امانتونه ساتم

●●●

خو بس په دې به خاطر نه درنوې
چې دې پر هر څه اعتبار وکړم
دغه خبره مې ضمیر نه مني
چې له بې لارو سره لار وکړم

●●●

له خیال و فکر نه محروم وګرځي
درانه سرونه ټیټول غواړي
دا د غرض د تاترین بچي دي
ځان له غرونه ټیټول غواړي

❁❁❁

هما د فکر پر ما سيوري کوي
د شپو او ورځو ستر امام يمه زه
دا به قسمت وي، يا يې جبر ګڼه
چې د وړو خلکو غلام يمه زه

❁❁❁

چې په پيالو کې زموږ وينه غواړي
له صاحبانو سره جنګ لرمه
ځوان يم، نشه لرم په رګ- رګ کې
په خورونو باندې بنګ لرمه

❁❁❁

ته خو سپوږمۍ يې له دنيا نه بره
ته چا پر مځکه غورځولې نه يې
لا د رڼا په ميو ژوند تېروې
سرابي تندې ځورولې نه يې

❀❀❀

تــا تـــه نـــړۍ د رنـــګ و نـــور چینـــه ده
هـــــره هنـــــداره کـــې دې ځـــان ګـــورې
تـــــه د جفـــــا درد او الـــــم نـــــه منـــــې
ځکـــــه پـــه هـــر څـــه کـــې رومـــان ګـــورې

❀❀❀

مـــونږ تـــه ژونـــد ببلـــې مانـــاوې لـــري
زمـــــــونږ دوا رو تجربـــــــه بېلـــــــه ده
تـــــه بادشـــــاهي، زه ملنګـــــي کومـــــه
ځکـــــه مـــــو داســـــې انـــــدازه بېلـــــه ده

❀❀❀

قـــسم پـــه تـــا زه یـــې پـــه تمـــه نـــه یـــم
چـــې وخـــت بـــه مـــا لـــره انعـــام راکـــړي
د ســـقراط پـــر پـــل مـــې پـــل ایـــښی دی
راتـــــه بـــــه ډك د زهـــــرو جـــــام راکـــــړي

❁❁❁

انسان د ځان د ګټې فکر وړی
پر دې مخلوق یې اعتبار نه شي
په کوم لستوڼي کې دې لاس لیدلی
چې ځای د لعل راشي، ښامار نه شي

❁❁❁

وخت اورنګزیب دی چې زما پر ژبه
بې بغاوته بل اواز نشته
ما د خوشحال د زړه نغمه وګڼه
له زمانې سره مې ساز نشته

❁❁❁

زه به درځم، ستا د لښکر مخې ته
داسې هم نه ده چې دې سیال نشته
ټول صاحبان دې ترې وباسي غشي
هو! له جانان سره دې ډال نشته

# پېلبو خور ته!

## هار

خوري منم، هره ګیله دې منم
د مرغلرو پورورړی یمه
ستا د رنګینې سالګرې لپاره
زه د سندرو پورورړی یمه

❀❀❀

خو داسې مه ګڼه چې هېره مې یې
خپل عزیزان په حافظه کې ساتم
زه د ورړو- ورړو خدایانو بنده
څو انسانان په حافظه کې ساتم

❀❀❀

پېلبو زه اوس بدل شوی یمه
هغه له ما نه بهانې تاووي
درد د ښکارې غونډې په چل او فرېب
زما له سترګو نه حلقې تاووي

د درد له دښتي چې راوگرځمه
بيا به لندن ته سپېلني درلېږم
گوره اختر به وي، مېلې يه راشي
بيا به دې لېچو ته بنگړي درلېږم

خورکۍ مې دومره راته صبر وکړه
چې ستړي زړه ته مې کرار جوړ کړم
د بهارونو لمن وښندمه
ستا سالگرې لپاره هار جوړ کړم

# نیزې

زمـــا د روح د اســـمانونو ښـــکلا
قـسم پـه خـداى دى پـه تيـارو كـې يمـه
خـدايزده د كـوم ښـكلي مـې زړه مـات كـړى
دا ځـو كلونــه پـه ښـېرو كـې يمـه

❁❁❁

گنـــې نـــو تـــه د ښـــكلاگانو كتـــاب
زمــا د زړه پـــه تــاخ كـې پـاس ايـښې يـې
لـــه تـــصوره دې گردونـــه شـــړم
پـه وريـښمين پـوښ كـې د احـساس ايـښې يـې

❁❁❁

د شـــاعرۍ ورځـــې خـــو پـــاتې دي لا
مرمـــــوز كتابــــه! مفــــسر دې يمــــه
چـې شـرنگ د تـورو شـي، د شـاتو مچـۍ
داسـې بـه كړمـه چـې شـاعر دې يمـه

❀❀❀

ځرك د لېمو راباندې ولګوه

ستا په بنګړيو بلا شور لرمه

بيا به يې دغه د نيا تاب نه لري

په تخيل كې دومره زور لرمه

❀❀❀

د تاج محل كيسه بلا وړه ده

زه له فولادو نه مرمر جوړوم

دغه دنيا به رنګه- بنګه كړمه

نوې يې زه په خپل هنر جوړوم

❀❀❀

زړه د سندرو استانه ده زما

ورته دعا وركوم. پير يې زه يم

ټول ربابونه مريدان دي زما

خوښي يې زه يم، ګرانه وير يې زه يم

❁❁❁

د مخ او زلفو تصور خو نه دی
د خیر و شر فکرونه هم کومه
د ننګرهار کیسه یوازې نه ده
زه د خیبر فکرونه هم کومه

❁❁❁

زه د وجدان د آینې بندیوان
چې خنګه اوږ کې ګلان وکرمه
له دښتو تولې کاندو تورې کېږدی
زه هم په کور کې ګلان وکرمه

❁❁❁

د مرګي فکر هم کوم ملګرې
خو داسې نه چې د بلا غونډې دی
لېونی ذهن دلیلونه غواړي
مرګی د لوبې معما غونډې دی

❁❁❁

د حسن و مینې د تقدیر خبرې
تولې په ګډه یو ځواب غواړي
د زړو لارو منځ کې تم وګړي
د یوې لارې انتخاب غواړي

❁❁❁

زما ملګرې، زموږ ډېر ملګري
نشي د "بیر" او اروپا ډوب کړي
که بېرته راشي، ژوند به څه ته وایي
خلك مې خم د امریکا ډوب کړي

❁❁❁

د ژوندانه د جنګ کیسه نه کوم
نه د یارانو تېر باري یادوم
نه به د ښکلیو تذکره کومه
نه به یې زه درته یاري یادوم

❁❁❁

پرتـــه لـــه دي هـــم ډېـــر غمونـــه شـــته دي
ښلـــې ښـــښې دي، نمـــايش يـــې ډېـــر دی
زمـــا د زړه ښيـــښې تـــه ځـــان جـــوړوي
لکـــه چـــې شـــوق د ارايـــش يـــې ډېـــر دی

❁❁❁

همـــدا غمونـــه زمـــا شـــونډې نيـــسي
خـــوږې خبـــرې مـــې پـــر خولـــه پـــاتې شي
ســـتا د خبـــرو د ســـرور ملگـــری
ښـــخې نيـــزې راتـــه پـــر زړه پـــاتې شـــي

# چې زه شاعر وم

هغه وخت چې زه شاعر ومه ملګرو
ښکلیو سترګو کې د مینې شرارت و
نامریي لمبو مې سترګې ګرمولې
سرو غوټیو کې سرور و، حرارت و

❀❀❀

هنرمند وم، د خوږو- خوږو خبرو
راسره به شاعري وه، خو اوس نشته
ما له تورو بلا ښکلي پنځولي
مقدسه کافري وه، خو اوس نشته

❀❀❀

هغه وخت بله سپوږمۍ وه، داسې نه وه
هغه وخت زما نظر لکه اسمان و
ځلاند لمر به و، که ستوري ځلېدونکي
هر یو نور، هره رڼا به مې جانان و

●●●

لمر له واورو نه سندرې پنځولې
سندریز د سریندې غونډې کوهسارو
عادتونه د فطرت ادل بدل وو
په تارونو د رباب کې به ابشارو

●●●

چې هوا یې د تاکونو د جنت وه
زه حصه د هغې مستې زمانې یم
چې یې شونډې د خوبانو هدیره شوه
ترنم د کومې ورکې ترانې یم

●●●

زه منم لا د الفاظو اشیانې شته
خو د زړه د سوز وزرې هغه نه دي
په دې څه چې مې د ذوق برجونه دنګ دي
د احساس مستې کوترې هغه نه دي

❁❁❁

تخیل مې هغه ونه د ځنګل ده
چې توپان يې هره څانګه د ګړنګ کړه
وچو پاڼو يې پر شونډو پاڼې ایښې
مور يې بوره د هر تال، د هر اهنګ کړه

❁❁❁

هغه وخت چې د ماضي تابوت کې ښخ دی
هغه وخت به کاڼي هم لکه غاټول وو
په هر یو کې یو صنم په زړه داغلی
چې صحرا کې به له ما سره راټول وو

❁❁❁

بیا "نثار" کړمه اشنا د بهیرونو
اوس به بیا یو څو سندرې پام ته راشي
چې د نثر له شاهینه توربېدلي
ګوندې بیا هغه کوترې دام ته راشي

# خو شېبې له ګل سره

د زندان ګله بندیوانه اشنا
زه ستا په خبر یمه. ما وپېژنه
منم چې دلته به بلبلې نه وي
زه خو هم هېر یمه، ما وپېژنه

❀❀❀

پر قرآنې پاڼو قسم دی زما
یوې ګل مخې به زه ګل بللم
ما پر کوخو باندې سپرلي شیندلي
زه یې نګهت، زه یې بلبل بللم

❀❀❀

ښه دی احساس دې په زندان پورې دی
ما یوه لویه دنیاګۍ لیدلې
تا غوندې ښکلي په اوربل زنګوي
ما داسې مسته لېونۍ لیدلې

❁❁❁

د ژوند تعبیر دې لنډ بریدونه لري
خیالي دستار د چا په خوب نه وینې
ته د زیارت له شناختونه یې خبر
ته به دوره د لپونتوب نه وینې

❁❁❁

له وجدو حاله ناخبره یاره
یاغي شمال دې لا لیدلی نه دی
ته له وربښمینې سینې نه یې خبر
د زلفو تال دې لا لیدلی نه دی

❁❁❁

د زندان ګله بندیوانه اشنا
مړاوو څېرو پورې خندا مه کوه
دلته یوسف او سقراط راغلي
تورو پنجرو پورې خندا مه کوه

●●●

زړه مې نرې دى، ګله ستا غوندې دى
د لولکۍ غوندې رنګينه غواړي
دا د تضادو د بنايست ملګرى
د يار غوسه، له موره مينه غواړي

●●●

ګل راته ويلي لېونيه اشنا
ته چې د خپل ارمان خبرې کوې
قسم په خداى دى، لکه خوب چې وينم
ټولې د بل جهان خبرې کوې

●●●

ټولې خبرې دې په ګل بدلې
تر ډېوالونو هاخوا هېڅ نه منم
بنګرې به ته وې، شينکى وهم به وې
تر ځنځيرونو هاخوا هېڅ نه منم

❁❁❁

دوه ورځې ژوند به په موسکا تېروم
وړه ویاله. یو څه اوبه لرمه
ګوره په رنګ کې مې ورمه نخښېږي
زه د فطرت واړه خواږه لرمه

# بدله پاڼه

پر دواړو مخو یې څپېړې راکړې
او ښکو د سترګو تماشه کوله
حال ورته غوړ- غوړ و. حیران غوندې و
زموږ ماضي ورته کیسه کوله

❁❁❁

د زړه پر للمه مې راواورېده
شبه- شبه زمونږه تېره مینه
هغه چې زه به یې ریحان بللم
هغه بې توله. هغه ډېره مینه

●●●

چې نرمې شوندې. لکه سره ګلونه
زما پر دواړو اننګو پرېوتل
روح مې نسیم شو. پسرلي یې راوړل
بلا ګلونه پر سجدو پرېوتل

●●●

په ډکو سترګو یې کړل پورته لبان
ویل یې ګل هم لوی خطر جوړوي
بیا به دې مخ ته شونډې نه دروړمه
دا څو پر تا باندې پرهر جوړوي

●●●

خو نن د وخت پاڼه بدله برېښي
لکه نیمګړې افسانه پاتې ینو
هغه په حال. زه پنه ماضي کې یمه
په بیله- بیله زمانه پاتې ینو

# ښکلا

زرو رنګونو کې بې رنګې ښکلا
په څه او څه کې پټ پټونی کوې
رنګ د لېمو کې د سرور څپه یې
بیا مې په زړه کې پټ پټونی کوې

❀❀❀

کله د غرونو په هیبت کې پټه
یا دې په ګل کې نمایش وینمه
شیبه- شیبه نوې جامې بدلوې
لمحه- لمحه دې ارایش وینمه

❀❀❀

ناز دې د نور سمندرونه څېرې
زرینو سترګو کې د کب پټه شې
لکه هوس د زلېخا غوندې یې
په پاکو تورو کې د رب پټه شي

❁❁❁

څوك دي پر سر د صليب لټه كوي
څوك د منصور غوندې په دار وختل
چا ته معلومه وي، پر بله لاړل
ځيني بې لارې وو، پر لار وختل

❁❁❁

كله چې رنګ له خاورو سر ووهي
زه شرابي شمه، كنډول لټوم
د زړګي داغ نه مې لمبه پورته شي
د غره لمنو كې غاټول لټوم

❁❁❁

كله دنيا بلا وړه غوندې شي
د لوى جانان پر لوري منډه كړمه
د جينكو خطونه وغورځوم
د سره قرآن پر لوري منډه كړمه

●●●

کله اذان د سهارونو کوم
په میکده کې مې ماښام راشي
حق او باطل د معما غونډې دی
راته په دوارو کې ارام راشي

●●●

یا خو دا ټول رنګونه خپل جوړوم
ته مې له حس او له نظره وځې
هر څه ته واچوې زرینې جامې
د زړه له وره بې خبره وځې

●●●

زرو رنګونو کې بې رنګې ښکلا
په څه او څه کې پټ پټونی کوې
رنګ د لېمو کې د سرور څپه یې
بیا مې په زړه کې پټ پټونی کوې

# بندگي

ژونده زه له تا نه تنگ يم
ته خو درد يې، يو ارمان يې
ما خو نه وې رابللی
چې پر ما باندې تاوان يې

❀❀❀

د جفا د غشو نخښه
د خوبانو بندگي ده
بس همدغه زما ژوند دی
بس همدا مې زندگي ده

❀❀❀

د جانان خپېړې يو دي
د دوران خپېړې نورې
خپله هم دښمن د ځان يم
د جهان خپېړې نورې

هر قدم مې مجبوري ده
پر هر ګام باندې غورځېږم
لا بندي يم، د يو جبر
پر بل دام باندې غورځېږم

تولې سترګې نا اشنا دي
زه د بل جهان سړی يم
ورکه شوې رانه لاره
سودايي يم، لېونی يم

يو لښکر يمه مات شوی
بس يو جنګ يمه بايللی
ګلورين جانان مې تت شو
زه يې رنګ يمه بايللی

ژونده ته خو يو فرېب يې
دروغجنې دې وعدې دي
دا ناکام به وي تر هغه
چې ودانې ميکدې دي

# احساس

مقتول زړګیه سزاوار یې د غم
تا له خونکارې سره مینه کړې
چې ورته ستورې د امید سترګې دي
له داسې یارې سره مینه کړې

❋❋❋

اسمان ته نه ځي، د مینو دعا
له پرښتو ځنې امین هېر دی
زړګیه شک دې په باور واړوه
ستا له جانان ځنې یقین هېر دی

❋❋❋

اوس د مجنون ګرېوان ته نه ګوري څوک
مینه مادي غونډې اثبات غواړي
د جینۍ سترګې ژیړ بشر څه کوي
د سرو او سپینو به سوغات غواړي

❁❁❁

دې زمانې ته افسانې ښکاري دا
چې تشو تورو نه غزل جوړوي
یا به دا ښکلې ارجمند هېروي
یا به هغې ته تاج محل جوړوي

❁❁❁

ته لکه کاڼی یې، غمی خو نه یې
د هغې حسن خپل نمود غواړي
چې بندیوان یې کړې، پرې شك و نه شي
صاحبه داسې یو وجود غواړي

❁❁❁

د قهر سیند ته دې ورو غورځوي
بیا په خندا کې درته لاس درکړي
څه په غرور او خواخوږۍ زړګیه
د خپل غربت درته احساس درکړي

# تضاد

تا خو ویل چې زندګي ده
د الفت لپاره جنګ دی
ما مې غشي - لینده مات کړل
د شهرت لپاره جنګ دی

●●●

څه درنو تیارو پناه کړې
ته رڼه، لکه سپوږمۍ وې
ټول وجود دې تقدس و
د باګرام د ښار جینۍ وې

●●●

زما بل شان فلسفه ده
سر تر پایه مې د قام یم
ټول مغول په ما خبر دي
چې نره یو انتقام یم

●●●

دا تضاد زما او ستا به
دا وصال مور ته بېلتون کړي
بل ريحان به دې په زړه کې
دا وختونه رازرغون کړي

●●●

تصور به مې جوړ نه وي
بيا به بېرته درنه هېر يم
لکه زوړ کتاب د عشق به
د ماضي په تاخ کې ګېر يم

# شراب رنګي شونډې

جانانه تا له سندرې وایم
ستا له ښایست نه ترانې جوړوم
د شراو شور په ماشیني دور کې
د ښاپېریو افسانې جوړوم

❁❁❁

خو وایې، ما ته به سندرې لیکې
هم وایې، ته د میکدو خونه یې
ته خو ریحان یې، ته خو ګل یې زما
د طوفانونو د میرو خونه یې

❁❁❁

پر پیمانو بندیز دې لیرې کړه بس
د شراب رنګو شونډو جام دې شمه
چې بیا په میو فلسفه وو وینځم
چې د ښایست عمر خیام دې شمه

# د فلسفې وزر

چې زما سترگو یې جلوې نه لیدې
هغه وختونه اوس په خوب گورمه
هو! د باگرام پر حسن خپزه سیمه
رنگونه ستا د پېغلتوب گورمه

❀❀❀

ته ما ته څه ښکارې، زما ملگرې
درته یزدان وایمه، رام دې گڼم
شونډې مې ستا په ریاضت کې رپې
د اسماني شرابو جام دې گڼم

❀❀❀

څومره خوږې دي، دغه لارې- کوڅې
چې یې په مینه ستا قدم ښکل کړي
ته یې چې جوړه کړې، ښهکارې مینې
لوی منصور هم خپل قلم ښکل کړي

❁❁❁

بنـــــكلا دې ښـــــه ده، عقيــــــده ده زمـــــا
د ارســــــطو منطــــــق نــــــه زور اخلــــــي
ســـــتا د كـــــوڅې جنــــون تـــــه نـــــه رســـــېږي
د فلـــــــسفې وزر مـــــــې اور اخلـــــــي

❁❁❁

ســـــتا شـــــبنمي مينـــــه بقـــــا نـــــه لـــــري
د اســــــمانونو لاره زر ونيــــــسي
ســــــتوري، گلونـــــه د نـــــرگس وگرځـــــي
د شـــــنو بـــــاغونو لاره زر ونيــــــسي

# د صلیب پر سر

په لېمو يې غزل جوړ کړم
سپين کاغذ وي، توری نه وي
د نړۍ فطرت بدل شي
په اسمان کې ستوری نه وي

❀❀❀

کله- کله زړه ته وايم
ورځه نوري سترګې ګوره
سرې او شنې به وي. دا چا وي
چې ته توري سترګې ګوره

❀❀❀

ځان د بل جانان ملنګ کړه
په باګرام کې کلي ډېر دي
د څو ورځو مشغولا ته
په جهان کې ښکلي ډېر دي

❀❀❀

چې د مینې امن راج وي
د ثلورو سترګو جنګ وي
هره ورځ مو لاس په لاس وي
هره شپه مو خنګ پر خنګ وي

❀❀❀

په خپل خیال کې ته بېلتونه
روغ وګړي ته لګیا یې
فلسفه دې ده نیمګړې
ته نیمګړی، ته لګیا یې

❀❀❀

په دې شرط یې مې هېرومه
ته مې زړه ترې ببرته راوړه
چې احساس د عشق یې بولي
هغه څه ترې ببرته راوړه

●●●

تنهایي راته موسکی شوه
وی یې ته خو لېوني یې
معشوقه دې دلته غواړې
خو د بل جهان سړی یې

●●●

د صلیب پر سر ختلی
پر حرم باندې مین یې
بس پر خوله دې خوشالي ده
خو پر غم باندې مین یې

# تابلو

د معصوم انځور په څېر وه
پر پالنگ زما ویده وه
د خوب پېغله مروره
دا تر څنگ زما ویده وه

❀❀❀

یو خاموش جهیل د رنگ و
ما وې توري به ترې ډک کړم
چې په ترو سترگو گوري
دغه ستوري به ترې ډک کړم

❀❀❀

د اوربل گل یې موسکی شو
نگهت ووت له جامو نه
نرگسي لېمه مې ډک شول
د سپرلي له رنگینو نه.

# د رنگ او نور چینه

زما گل باداره یاره
ای د رنگ و نور چینې
دا زما لېمه خو گورې
دوه د سوي طور چینې

❀❀❀

یو جلوه وي ستا د حسن
په کلونو هجر اورې
زه به ځنگه تا ته درشم
چې پر پلونو جبر اورې

❀❀❀

ستا اویا زره حجابه
او زما هیلې کمزورې
چې یو څو گامه درواخلم
سر مې گرځي، سترگې تورې

●●●

خير دى، خير دى ياره راشه
د زړه ور مې ليرې کړئ
هېڅ حجاب تر منځه نشته
خپل نظر مې ليرې کړئ

●●●

له اسمانه ما ته راشه
خپله ياره لاس مې لنډ دى
زه کتلى درته نه شم
دا محتاج احساس مې لنډ دى.

# يوه شپه

هغــــه شـــپه رانـــه جانانـــه نـــه هېربـــږي
هغــــه شـــپه زمـــا پـــه ذهـــن كـــې انځـــور ده
هغــــه شـــپه چـــې پـــه نظـــر كـــې مـــې رڼـــا ده
هغــــه شـــه حـــې لا زمـــا د ســـترگو تـــور ده

❀❀❀

هغــــه شـــپه چـــې مـــو زړگـــوټي ســـندريز وو
هغــــه شـــپه چـــې د وختونـــو ســـر او تـــال شـــوو
هغــــه شـــپه چـــې دې پـــه زلفـــو كـــې ويـــده وم
هغــــه شـــپه چـــې د ماضـــي د تنـــدي خـــال شـــوو

❀❀❀

هغــــه شـــپه چـــې تـــصور نـــه مـــې بنـــوېږي
هغــــه شـــپه چـــې لطافـــت كـــې لكـــه خـــوب وه
هغــــه شـــپه چـــې لـــه احـــساس ســـره اشـــنا شـــوم
هغــــه شـــپه چـــې انتهـــا د مينتـــوب وه

هغه شپه چې مې ارزو د سحر نه وه
هغه شپه چې په دعا مې اوربدوله
هغه شپه چې کاينات له مخې ځك وو
هغه شپه چې ستا حيا مې اوربدوله

هغه شپه چې دا دنيا راته بنايسته وه
هغه شپه چې زه له ځانه رابهر شوم
هغه شپه چې ستا د زلفو عنايت و
هغه شپه چې له زندانه رابهر شوم

هغه شپه چې تاج محل د تخيل وې
هغه شپه چې مرمرينه وې ملگرې
هغه شپه چې لکه سپين گلاب نشه وې
هغه شپه چې گلورينه وې ملگرې

❁❁❁

هغه شپه چې ترنم د کوم ابشار و
هغه شپه چې د ځنګل له روحه شنه وه
هغه شپه چې د ريحانو خوشبويي وه
هغه شپه چې د ازل له روحه شنه وه

❁❁❁

هغه شپه چې له مودو نه مې ارزو وه
هغه شپه چې مې حاصل د انتظار و
هغه شپه چې دې نظر لکه مرهم و
هغه شپه چې زما روح باندې پرهار و

❁❁❁

هغه شپه چې ته نغمه د سمندر وې
هغه شپه چې په وجود کې مې طوفان و
هغه شپه چې مرغلرې درپسې وې
هغه شپه چې ساحلونه د رومان وو

❁❁❁

هغه شپه چې هره ونه يو رباب و
هغه شپه چې هواګانو کې ټپې وې
هغه شپه چې ايکي خداى سره يوه وه
هغه شپه چې مو ساګانو کې ټپې وې

❁❁❁

هغه شپه چې حجابونه خپله جوړ شول
هغه شپه چې رانه ستوري واړه پټ وو
هغه شپه چې زر غزلو مو طواف کړ
هغه شپه چې دغه توري واړه پټ وو

❁❁❁

هغه شپه چې د وجدان په خيال کې نه وه
هغه شپه چې له جنته وه راغلې
هغه شپه چې دا ظالم فلك ويده و
هغه شپه چې له قسمته وه راغلې

❀❀❀

هغه شپه چې مو د روح سکنې خور وه
هغه شپه چې له عدم نه پخوانۍ وه
هغه شپه چې نور څه نه وو. زه او ته وو
هغه شپه چې له قلم نه پخوانۍ وه

❀❀❀

هغه شپه چې اوس يې تل له خدايه غواړو
هغه شپه چې اوس يې نوم لکه عنقا دی
هغه شپه چې مو روخونو کې ويده شوه
هغه شپه چې ټول ژوندون مو پرې رڼا دی

❀❀❀

هغه شپه رانه جانانه نه هېرېږي
هغه شپه زما په ذهن کې انځور ده
هغه شپه چې په نظر کې مې رڼا ده
هغه شپه چې لا زما د سترګو تور ده.

# گلورینې پاڼې

زما اشنا د بدخشان غمیه
راته احساس د خپل شکست راکوه
زه دا بد معما ورې یمه
ته پېغورونه د "الست" راکوه

***

زه دې د زړه پر درزا نوم لیکمه
ته زما نښې خپل سلام رالېږې
پرې غوځوې بس د خوارانو زړونه
ځلاندې توري بې نیام رالېږې

***

تنکۍ جینۍ داسې سره کېږې ولې
ستا په پاکۍ، تا نه پناه غواړمه
لا چې تر اوسه ترې خبر نه یمه
معافي د هغې اشتباه غواړمه

***

تا په کتاب کې راته کړې نښې
خبر پرې نه شوم، خو چا سپینې کړلې
ټولې به لولم، ګوندې تا لوستې وي
پاڼې یې ټولې ګلورینې کړلې

# سر او تال

دې ورېښمين د سمال د تال کې
يو مرموز د مينې راز دی
له ازله مې ملگرې
دې ورته يو اواز دی

❀❀❀

خاموشي مې لکه خوب دی
د درياب د زړگي شور يم
ماتېدل مې ناممکن دي
د جانان د سترگو زور يم

❀❀❀

ما له ځانه سره بيايي
سره تارونه جادوگر دي
سوز و ساز باندې مې سوځي
چې په ذوق زما خبر دي

❁❁❁

د جانان خوږې خبرې
پښتو ته راته ښایسته کړي
د ستار په شرنګ کې ناځي
نیمګړې راته ښایسته کړي

❁❁❁

سر د توغ خوږه نغمه ده
دغه تال اروا د ډول ده
زړګي غوږ ورته نیولی
څښېدلي له غاټول ده

# نمود

مونږ د نورونو ښکلا څه لیدلي
خو خپل احساس رابانديږ لوبې کوي
مونږه له ځانه ناخبره خلك
هسې وسواس رابانديږ لوبې کوي

❀❀❀

دغه وږمې خو زما ستا مينه ده
خلکو ته وايه چې له ګل نه وځي
دا هم زما په زړه کې جړړې لري
کوم يو فرياد چې له بلبل نه وځي

❀❀❀

دا خو په خپل سرور کې لولپه شوم
ګنې په سپينه خوله کې اور چېرته وي
چې زما دنګ تخيل ولړزوي
ستا د بنګړيو دومره زور چېرته وي

❀❀❀

شاعره منم ته ښکلا جوړوي

خو چې زما نظر دې هېر نه شي

ته ترېنه ټول عمر سندرې واخله

خو چې زما اثر دې هېر نه شي

❀❀❀

ګله ښکلا ته که جاګیر وایې ته

په دې ګاونډ کې جینکۍ ډېرې وې

زړګی به بلې ته ورکړی و تا

ستا د سندرو لېونۍ ډېرې وې

❀❀❀

راشه پر دې باندې به روغه وکړو

مینه که حسن دی، وجود دی زموږ

ستا د نظر، زما د زړه رنګونه

د ګل پر پاڼو یو نمود دی زموږ

# شهید احسان ته ډالۍ!

د ژوند برید راته خپل کور او یا کوڅه وه
چې احساس مې د وجود راته پیدا شو
ماشومتوب مې غزونه زړه کې وکړه
کایناتو کې نمود راته پیدا شو

❁❁❁

د ماشومو جینکیو شاه زلمی شوم
هره ورځ به ودېدې راته نانځکې
د ژوندون قمار مې ورو- ورو زده کاوه
شرنګېد مې په جېبونو کې باغکې

❁❁❁

شنو پټو کې به خپاره لکه مرغان شوو
چې موسم به د سپرلي شو. د ساګونو
لولکۍ غوندې مې طبع نخېدله
د چمچار او د لښتیو په راګونو

❀❀❀

شوخ فطرت به مو لیندی کړي را په غاړه
چي دښمني د چینچڼو د نارو وي
خو په دي باندي به کله صبرېدو مونږ
د بابا چنار کي ځالي د ښارو وي

❀❀❀

یوه ورځ هسي د چتو ښکار ته وتي
د ټانکونو، الوتکو غرهار شو
سرکاري کلا ته نور پوځونه راغلل
یو ناڅاپه بزګرخېل کاکا په قار شو

❀❀❀

وی یي ولي ګلان نه وړئ له باغونو
دا راغلي وطندوست دي، کارګران دي
خو زموږ زړګو ته کله پرتو تله
نور اسلام کاکا ویل چي کافران دي

•

❀❀❀

مونږه هسې لا واړه وو، ماشومان وو
لوبې ټولې په څو ورځو کې زړې وې
لینډې لاړې، د لرګیو ټوپکي شول
د نانځکو په ګاونډ کې به جګړې وې

❀❀❀

ملالۍ د برګودر پر سر شهیده
توریالی د لوی سړک په جنګ کې لاړه
ننګیالی چې ښخېده، نو مور یې دا وې:
خدایه! شکر، د وطن په ننګ کې لاړه

❀❀❀

تخیل مې لا په هغو دوړو پټ و
چې زمونږه ګلالي بامونه وران شو
د تاریخ د جبر کوډې وې، که څه و
ننګرهار نه پېښور ته راروان شو

❁❁❁

د احسان چې احسانونه پر وطن دي

يوه ورځ يې داسې راغله سلامونه

چې د چم لارې- کوڅې بلا وړې شوې

يا خو مونږه اوس اوږده اخلو ګامونه

❁❁❁

زه پر شوبلو، لښکرونو باندې پښې ږدم

د خپل کلي لويه لاره راسره ده

د لرګيو توپکی مې کور کې ايښی

يوه لويه ماشيندار ه راسره ده

❁❁❁

د باګرام په ښاپيرو کې مو هېر نه کړې

ستا کيسې پر ژبه ګرځي، د يارانو

ادم خان و، که درخو، که شيرينۍ وه

د ملوك او د بدرۍ او د دېوانو

که راځې. نوګوره دومره صبر وکړه
چې جومات او مدرسه کې ښه میرزا شې
چې لیکلي کتابونه دې په یاد وي
ته به زور زمونږ د مینې او غزا شې

ما وطن لکه کتاب په زړه کې پرانیست
د شنو غرونو. سوو دښتو د سنګر شوم
خو تقدیر زما او ستا په لاس کې نه دی
د "**احسان**" له شهادت ځنې خبر شوم

# شنه نوا

لاروی د خپل زړګي وم
له وجوده اواره شوم
شنې درې وې، که ښارونه
د هر څه په ننداره شوم

❁❁❁

په تور کاڼي اینه کې
ما تلاش د یو وجود کړ
ګل او ګاڼي کې موسکی شو
هر یو څیز یې خپل نمود کړ

❁❁❁

زه روان وم په مخه
ځای پر ځای به کلي راغلل
لکه غله به مې ګوګل ته
ډله- ډله ښکلي راغلل

❀❀❀

خو زما زړه کې دننه
بېله تله، بې حساب و
له ازله مې راوړی
یو د حسن انتخاب و

❀❀❀

ما د هر وجود په رنګ کې
یوه ښه لټوله
که موندې شوه او که نه شوه
ما مې خوښه لټوله

❀❀❀

زما درد ورته عجب و
د هسک ستوري جاسوسان شول
د خوبانو پر کورونو
تر سحره نګران شول

❁❁❁

وې يې مونږه هم خبر كړه
د ليلا نخښې دې څه دي
هغه ته چې پسې مړ يې
د ښكلا نخښې دې څه دي

❁❁❁

ما وې ګل نازك مزاج دى
نه ترخه ده، نه خوږه ده
تل په اوښكو كې موسكى وي
د تضادو فلسفه ده

❁❁❁

كه زيږې خبرې وايي
د طوطيانو شنه نوا شي
لكه وحې زړه ته راشي
هر پرهر لكه "حرا" شي

❁❁❁

چې خپه شي، نو خپه شي
منتونه ورته نه شي
د ځواني پياله كه اوړي
خو ستونه ورته نه شي

# جلوه

د محبت رنګ ته په غور ګوره
د محبت رنګونه ډېر غونډې دي
دا کاینات یو شیش محل وګڼه
ستا د الفت رنګونه ډېر غونډې دي

●●●

ته د احساس له لمبې لیرې ګرځې
خلك دې نوم پوښتي، خو څه ووایم
دا خو هوښیار دي، لېوني به شمه
که مې خبره زه د زړه ووایم

●●●

ما دې لیدلې د ښکلا معجزه
په هر یو کاڼي کې بودا شي راته
بیا مې چې اوښکې په دسمال وچې کړم
ته به له لیرې په خندا شې راته

●●●

د راګ کوڅه کې دې نن خوله راکړې
رانه په څنګ شه، اوس به اور واخلم
مسته جلوه یې د الماس د غمې
نه چې اوس ستا ګوتو کې کور واخلم.

# یو چا ته!

تاسو له دې وطن نه کډه کوئ
تاسو پر شنو سمندرونو اوړئ
ما د پوالونه لکه غرونه ګڼل
څه به پېښېږي چې پر غرونو اوړئ

❀❀❀

نظر ویاله کړم، ورته اوښکې ورکړم
چې شینکي بوټي ستا د بام ګورمه
باد به مې وړي، لکه د وچې پاڼې
ستا د دوستۍ دغه انجام ګورمه

❀❀❀

چا چې سپېڅلي انسانان ستايلي
زما پر شونډو دې نامه راغلې
په تصور کې ستا حیا لپاره
له جنتونو نه جامه راغلې

●●●

ورځه- ورځه، پر مخ دې ژېړ ګلونه
ته چې خوشاله يې، زه غم نه لرم
دا دى له ځان سره خبرې کوم
دا سې هم نه ده چې قلم نه لرم

●●●

ستا له شينکى عزيزولى نه لوګى
د بل شاعر زړه ته به لور نه نيسئ
هو! زما دا خبره مه هېروه
بيا به د لارې پر سر کور نه نيسئ.

# بیا له سندرو نه جامې جوړې کړه

ستا په کتو زما نظر سوی دی
لکه د "طور" مې د زړه غر سوی دی

پر هر طرف دا غځېدلې لارې
ستا په تلاش کې ګرځېدلې لارې

لکه زما تولو نه یون پاتې دی
په حیرانۍ کې ترې لټون پاتې دی

څه تقابل و چې دې کور ورک کړ
هرې هنداري دې انځور ورک کړ

جانانه ما درته سندرې راوړې
ما دې امېل ته مرغلرې راوړې

جانانه ستا د ارایش لپاره
ستا د ښکلا د نمایش لپاره

له کایناتو نه مې رنګ راوړ
ما د ښلورو سترګو جنګ راوړ

اوس دې له چا نه چې تپوس وکړم
لاسونه ومروړم، افسوس وکړم

ستا تصور پسې اوس ستوري ګورم
په بیره- بیره غزلتوري ګورم

جانانه راشه، په یو ګل کې راشه
د سپرلي ورځې دې په مل کې راشه

بیا له سندرو نه جامې جوړې کړه
زما خبرو نه جامې جوړې کړه

زما تندي کې دې خپل ځان وګوره
خو په وجود کې دې جانان وګوره

له ما نه ورکه، له جهانه ورکه
له مځکې ورکه، له اسمانه ورکه

ته په وجود کې لوی عدم یې، پټ یې
په هر یو کاڼي کې صنم یې، پټ یې

جانانه ولې په نمود کې ورک شوې
له ما نه ته په خپل وجود کې ورک شوې

جانانه فرض کړه، که پیدا دې نه کړې
راته دروغ یې، که رښتیا مې نه کړې

زما ژوندون به څه مانا ولري
دغه لټون به څه مانا ولري

د ژوند صحرا کې لېوني ولاړ یم
یو جل وهلی سپیلنی ولاړ یم

چې نظرماتی شم، لوگی دې شمه
د ځوانۍ ناوې ته زلمی دې شمه

جانانه بیا لکه د لمر شه، راشه
زما ککیو ته نظر شه، راشه.

غېږ يې له غاټولو نه خالي راشي
ډېر که دې وطن ته پسرلي راشي

بيا به د باران بخۍ پرې وګرځي
بيا به زموږ دښتونو ته کالي راشي

وسولېدې کرښې د لاسونو مو
څه که مو اوس کلي ته پالي راشي

زه چې د خپل زړه رڼا خفه کړمه
توري مې له ستورو نه خالي راشي

څنګه به په زړه کې پټه وربږدي
خيال که لېونۍ ته د لالي راشي

ژمې کې بزګه څوکه تږې شي
کله- کله داسې وچکالي راشي.

د چا سترګې مې په زړه کې لاره ګوري
سندريزې چينې غره کې لاره ګوري

ستا ښايست مې له وجود نه بهر نه ځي
دا که موج دی، په راده کې لاره ګوري

تيتې سترګې په ورو- ورو قدم اخلي
لکه ناوې چې واده کې لاره ګوري

کله- کله لاندې تلو ته لاره نه وي
هوښياران به په خاته کې لاره ګوري

ستا پر ذهن خپرېدو ته مې پرستې
تخيل مې په وېښته کې لاره ګوري

تر شنو ونو لاندې، شنه چينه کې لامبي
ګوره وړانګو ته ځنګله کې لاره ګوري

لاروی د لويې لارې ورته تم شو
توري سترګې يې په وره کې لاره ګوري.

در دانـــي غــوا ړي چــې ســتا د غــاړې هــار شـــي
ســـتوري هـــم طمـــع لـــري چـې دې مـــدار شـــي

دا تـــه هـــسې ســـپين تنـــدی پـــه کـــانو ولـــې
دا هنـــداره ده، يـــو وخـــت بـــه دې پـــه کـــار شـــي

ويـــده لمـــر بـــه ځـــه درانـــه خوبونـــه وينـــي
چـــې شـــبنم د گـــل پـــر پـــانو بانـــدې بـــار شـــي

دا ســـاړه- ســـاړه بادونـــه ځـــه پيغـــور کـــا
گـــل بـــه غبـرګ لـــه راځـــي، خـــو چـــې بهـــار شـــي

پـــه ښـــکاره لـــه خنـــدا شـــين، دننـــه ســـوزم
طبيعـــت مـــې د قاضـــي بابـــا چنـــار شـــي

چـــې هـــر ســـتوری ورتـــه خپلـــه رڼـــا لار کـــړي
دا ســـړی واعظـــه ځنگـــه نـــو پـــه لار شـــي

لا شعور مې محرك، لکه افغان يم
چې د غشو په باران کې دروان يم

لاروی يم، خو دمه کولی نه شم
درروانې زمانې د زړه ضربان يم

ډله- ډله ښکلي راغلل، بېرته لاړل
خدای خبر دی چې د چا د زړه ارمان يم

مرگ او ژوند لکه جوړه قاصدان راغلل
زه يې کوم يو په مخ ښکل کړمه، حيران يم

داگرېوان مې چا مغل خيرلی نه دی
زه خوشحال يمه، پر خپلو مې تاوان يم.

جانانه ته چې په کې اوسې، هغه زړه ورانوې
په بیره- بیره دې دېوال د خپل کاله ورانوې

زه که هرڅومره په خوږه- خوږه دروګورمه
لکه د نیغو- نیغو غشو دې بانه ورانوې

له فیروزې خاله دې وګرځم، زه څه ووایم
ما په وصال کې هم مدام، لکه شیده ورانوې

زما سینې خو پر پرهر باندې پرهر خوړلی
ته راته ووایه په وران کابل کې څه ورانوې

د اننګې د پاسه خاله کېږدې، کاکل چپه کړې
ته دې د پلار د ارمانونو ثلې بنه ورانوې.

دوه مړوندونـــه مـــې غړونــــه د ځنځيـــر اوري اوس
چې د زړګي غوړونه غړ، د روڼ ضمير اوري اوس

يو څوك ملنګ شاعر و، اړ يې کړ چې کډه وکړي
ځکه د کلي خلك ساندې- ساندې وير اوري اوس

زه ورتـه ګـورم چې د زړونـو سکو شـرنګ بـايللی
ټـول زنـګ وهلـې شـان خبـرې د اميـر اوري اوس

د دغـه غـره پـه هـر ګړنـګ کـې يـو کمـان غلـی دی
د هـر طـوطي د زړه خبـرې دلتـه تيـر اوري اوس

پـــه مـــرغلين امېـــل بـــه څـــوك الله- الله ووايـــي
چې "**مصطفی**" نصيحتونه د خپـل پير اوري اوس

راځه چې اوس مې جوړه له تاوانه زنده ګي ده
جانانه و جانانه بلا ګرانه زنده ګي ده

چې تا مې د زړګي خښته په خپلو لاسو ویستې
له هغې نه تر اوسه مې لا ورانه زنده ګي ده

هغه پر تا مینه وه چې ته له ما نه لاړې
پښېمانه راته ښکاري، ځي روانه زنده ګي ده

د ژوند په شر او شور کې سندریزې سترګې ګوري
دې بعضو خوش نصیبو ته اسانه زنده ګي ده

احساس یې ماته نه شي، خو جانان مې راته وایي
له مځکې نه شروع ده، تر اسمانه زنده ګي ده

بتکده ښه ده، حرم راسره ښه دی
ستا تصویر رقم- رقم راسره ښه دی

زماني! دا معما خو راته حل کړه
توره ښه ده، که قلم راسره ښه دی

د سنګسار په تورو کاڼو باندې خوښ یم
حجابونو کې صنم راسره ښه دی

تر ابده زما تنده ماته مه شه
د وصال تړون یې کم راسره ښه دی

څه نسبت خو له لمرمخې سره جوړ شي
ګلابي سترګو کې نم راسره ښه دی

❀

له انتظاره پس د زړه پرهار ته څه وو ایم
ژوند ترېنه ځار شه، زه قاتل دلدار ته څه وو ایم

له ما نه غواړي ستا وربښمیني، ګلوریني پاپی
زه د باګرام په زړه کې شاړې لار ته څه وو ایم

تا چې جانان- جانان بللم، غوټۍ غوړ- غوړ وي
ستاسو تپوس کوي اشنا، بهار ته څه وو ایم

منم ترخو کې دي احساس، د خوږو زه کومه
پښتونولي ده، بېنوا ریبار ته څه وو ایم

تا ویل چې شناختې ټکوه، وایه رادرومي مسیح
اوس د شهید امید خاموش مزار ته څه وو ایم.

# دوه بیتونه

هېـــروم دې زوروره راپـــه یـــاد شـــي
یـــو ناڅاپـــه پېـــښوره راپـــه یـــاد شـــي

تـــصور دې پـــه تنـــدي کـــې رب تـــه یوســـم
پـــه ســـجده کـــې بختـــوره راپـــه یـــاد شـــي

چـــې لـــه مـــا نـــه یـــې مهینـــې جـــامې غوښـــتي
بارانـــه تـــه یـــې ګیینـــې جـــامې غوښـــتي

تـــه کـــه راشـــې، د چینـــو د اختـــر شـــپه ده
لـــه اســـمانه یـــې زرینـــې جـــامې غوښـــتي

ځـــم ورځـــم، د غرونـــو کـــاڼي ټکومـــه
یـــار لـــه مـــا ځنـــې وربـښمینې جـــامې غوښـــتي

بنـــارس او کلکتـــه لـــه پـــښنو وباســـم
پـــس لـــه وختـــه یـــې د مینـــې جـــامې غوښـــتي

چـــا فقیـــر ویـــل چـــې زړه هـــسې لبـــاس ښـــه
د مـــریم غونـــدې یـــې ســـپینې جـــامې غوښـــتي

پـه دې کلـي کـې د غـره غونـدې يـو کـس دی
خـو پـه تـا پـسې اوبـه غونـدې يـو کـس دی

پـــه تـــسبو د درزا نـــوم د يـــار اخلـــي
کـه يـې گـورې، لکـه زړه غونـدې يـو کـس دی

سـر بـه درونـد ، لکـه د تـاج وربانـدې نـه وي
څـوك ملنـگ دی، د بانـه غونـدې يـو کـس دی

وايـــي مـــوتې کـــې يـــې پټـــه مرغلـــره
پـه څـېـره د پـښتانه غونـدې يـو کـس دی

هر يـو رنـگ پـه کـې ښکاره دی، رنـگ يـې نشته
ښـه يـې وگـوره چـې څـه غونـدې يـو کـس دی.

یارانې لپاره زه د ګل په رنګ یم
د اغیار د تور تندي لپاره سنګ یم

اینه یم، د رحمان بابا په څېر یم
چې بدرنګ دي، هغو ته لو ته بدرنګ یم

د نرګسو غاړګۍ زما سلام دی
که وروستی علاج په جنګ شو. نو به جنګ یم

دغه سرې سترګې د زړه د وینې جوش دی
د ارهنډې ونه نه یم، ګوره بنګ یم

د اسلام او کفر رنګ ادل بدل شو
پسې تللی تر عربه، تر پرنګ یم

په خپل زړه کې د خوشحال تصویر ته ګورم
چې څوك ووایي بهرام یمه، اورنګ یم

نوره بله شمع ګورم، په تیاره کې
بال و پر سره تنګ شوی یم، پتنګ یم

شته د کفر او اسلام تر منځه تار دی
په مريو به تسبيح شي، که زنار دی

د غاټول کنډول يې رنګ د ذوق په وينه
تاواني لکه شاعر، زمونږ بهار دی

ستا جلوه به څه زما له ذهنه وځي
دغه ستوری خو غلام د خپل مدار دی

سر تر پايه د جلوو په وينو رنګ دی
د اسمان پر سينه ګرځنده پرهار دی

سندريز باګرام دې ناز په غزل نه کا
د خيبر په بله ډډه ننګرهار دی.

ما په سروي پسې کړی قد قامت دی
له سپرلي سره مې دومره رفاقت دی

نرمې شونډې کله اور، کله غوټۍ کړي
ما لیدلی د خوبانو کرامت دی

سترګې مه پټوه وګوره، مړ نه دی
لکه غر غوندې ولاړ دی، سلامت دی

بې اغېزه قصیدې شوې، د اغیارو
ورته کړی مې په سترګو اشارت دی

دا وصال که مینه وژني، خو ګناه شوه
ګنې ولې په کې رنګ د ندامت دی.

د مستو میو بغاوت مې کړي، غرور راکوي
سوز د سندرو یې سپېڅلی دی، سرور راکوي

ما د ساقي د سترګو زور ته خپل اختیار سپارلی
د اناالحق په جام کې جبر د منصور راکوي

تودې تودې، جلوه- جلوه یې پر مخ اوښکې راغلې
راته مقام اوس د سېزلي کوه طور راکوي

په شرنګېدلي تال رادرومي سندریزه جینی
یو ترنم خو به د زړه تار ته ضرور راکوي

د زړګي شنه پیاله زرین شفق ته نیسم په لاس
د یار د لمر غوندې تندي ته به سندور راکوي

زما غزل کې مړې تپې، دویم جنم تېروي
ما ته مرموزې مرغلرې لا شعور راکوي

محبت زما تخليق دی، هسې خيال دی
ما جوړ کړی د معشوق، د زنې خال دی

دغه وخت يوه نقطه ده بې تعريفه
د پرکار په څېر تاو شوی ترېنه کال دی

که جګړه د چا مجنون او د هوښيار شي
قضاوت د لېوني او که د پال دی

قيمتي سکې جينۍ ستا د لمنې
له هغې وسپنې جوړې دي، چې ډال دی

که هر څيز له هره څيزه مختلف شي
دروغجن په اصليت کې هر مثال دی

ټول د لمر د ډوبېدو رنګه کيسه ده
که سحر دی، که غروب دی، که کمال دی

ښه نری- نری باران راباندې اوري
تصور کې مې جانان راباندې اوري

بښکلیو سترګو ته مې زړه حرا- حرا شي
لکه توري د قران راباندې اوري

جادوګر بانه دې نه خوزي، له ځایه
لکه غشي د کمان راباندې اوري

یو مهال دې چې پسته خبره کړې
لا دې ګاني د احسان راباندې اوري

زه اوس ستا له شیش محله ماورا یم
شین ذرې- ذرې اسمان راباندې اوري

پرېږده ما نه څه پوښتې چې څه وشول
ستا رضا که دا وه گرانې، ښه وشول

شنې به دې نکرېزې په هر پل اوسي
اوښکې بارانونه شکر، ښه وشول

پته څه لمبه مې پر زړگي راغله
غېږه د جانان کې مې ساړه وشول

زه چې د ساقي د سترگو تږی وم
شيخ سره مې ډېر ليده کاته وشول

بل کال دې هم راغی، د ابا په کوږ
سږ کال هم کوکنار زمونږه نه وشول.

## دوه بيته

خدایه د جانان نظر نه پاتې شو
جنګ کې یو زخمي لښکر نه پاتې شو

نن چې یو غلام کچکول په غاړه کړ
تاج د یو بادشاه له سر نه پاتې شو

هغه که نه وي، نو نیمګړی یمه
زه یې د مینې پوروړی یمه
چې لا تمیز د خپل- پردي یې نشته
زه د یو داسې قام وګړی یمه
ژوندی په دې یم چې لحد نه لرم
ګنې له ډېره وخته مړی یمه
د لوی ښایست د اباسین تندې یې
په سرابونو باندې وړی یمه
زه لاروی د څومره لویو لارو
خو اوس وړه کوڅه کې ستړی یمه
ذره نفرت مې زړه کې نه ځاییږي
ټول یې له مینې نه جوړ کړی یمه

تنـــده ماتومـــه، هـــم توبـــه ســـاقي
بېرتـــه جوړومـــه ميكـــده ســـاقي

زه او تـــه پـــوهېږو، دومـــره ډېـــره ده
پرېـــږده لېـــونۍ ده زمانـــه ســـاقي

ســـر د خـــم پرانيـــزه، ســـر مـــې ځـــار لـــه تـــا
ماتـــه مـــې كـــړه نـــوره، تلوســـه ســـاقي

يـــو څـــاڅكي د ميـــو لاهـــو كـــړي دي
فـــن و او كـــه نـــوره فلـــسفه ســـاقي

ښـــه وايـــې جهـــان لـــه جامـــه لـــوی نـــه دی
خوښـــه مـــې شـــوه دغـــه انـــدازه ســـاقي

كړنـــګ د جـــام دې هـــم يـــوه دنيـــا ګـــڼم
نـــشته داســـې ښـــكلې ترانـــه ســـاقي

دې پتـــري- پتـــري زړه تـــه لـــږ پـــام كـــوه
ماتـــه درنـــه نـــه شـــي، پيمانـــه ســـاقي.

بې تابه زړه ته به مې تاب راشي
جانانه وخت به د حساب راشي

ژوند يې رنځور د وچکالۍ غوندې وي
مرگ يې پر کور، لکه سېلاب راشي

د ښايستونو ليدل، خوب ليده وي
لکه چې تږی په سراب راشي

کله چې ژوند راته عذاب غوندې شي
يوه جينۍ لکه ثواب راشي

پربېږده چې وخت ته لکه سوال اوسمه
څوك به اخر لکه ځواب راشي

حسن سخي دی، ستا نظر پاکوي
دا چې حجاب پسې، حجاب راشي

تصور مې د ښکلا د مینو جام شي
چې رايادې راته ترکې د باگرام شي

د خزان باد به وږمه د پسرلي شي
خو که لږ غوندې گذر يې ستا په بام شي

د تسبو ځنځير به وشلوي ناصحه
وحشي زړه به مې په تار د زلفو رام شي

غوږ شه نه مني زاهد مستي د ميو
خوند به وکړي، د ساقي که ورته پام شي

د سالك زړه خو وږمو د زلفو وړی
بد به وشي، که سپرلي په ده بدنام شي

## قطعه

گلـــې وجـــود کـــې دې د رنـــګ نـــشه ده
زمـــا پـــه لېچـــو کـــې د بنـــګ نـــشه ده
شـــرنګ د بنګـــړو ښـــه دی، د تـــورې ښـــه دی
هغـــــه ذ مينـــــې، دا د ننـــــګ نـــشه ده.

## قطعه

چـې زړګـی مـې غرغنـده شـي، نـو مـسکی شـم
ســرو لمبـــو تـــه ورکـــوم، د پـــسرلو رنـــګ
پـــښتانه پـــه زړه بـــې رنـــګ، لکـــه اوبـــه شـــو
ځکـــه اخلـــي پـــه اســـانه، د پـــردو رنـــګ.

## قطعه

څـښه دې خپـل ښایـست، خـو پـر مـا پـام لـره
گـــــوره د دې بـــــزم پيمانـــــه يـــــم زه
څـــه بـــه شـــمه زه، دا خـــو بـــه وخـــت وايـــي
اوس نامکملـــــه افـــــسانه يـــــم زه.

سازونه، سریندې مې په قلم کې لټوم
د بوه لور د زردشت په یو عدم کې لټوم

په دبر کې ورکه شوې، په حرم کې لټوم
جلوه د یو وجود په هر صنم کې لټوم

دا لارې پړاوونه ټول اجزا شي ستا د حسن
مزه چې د منزل په هر قدم کې لټوم

همداسې مړه کتل کوه، همداسې غشي وله
زه لویه خوشالي په دې ستم کې لټوم

پیاله- پیاله مې سترګې شي، خمونو د ښایست ته
چې هغه تناسب په زیات و کم کې لټوم

تنقید د پرښتو به راته مخکې- مخکې کېږي
جلوه د کرامت چې په ادم کې لټوم.

❀

د دعاګانو ښار ته لار نه لرو
له وخته مړه یو، خو مزار نه لرو

ما میکده په ماشومتوب لیدلې
چې هوښیارانو سره کار نه لرو

مونږ بې لارې او اره وړانګې یو
په کایناتو کې مدار نه لرو

شیخه! د خدای مینه په زړه کې لرو
خو تسبې نه ساتو، زنار نه لرو

لاړو شهید شو، د غاټولو تخم
اوس به تر ډېره نوبهار نه لرو

د هسکو غرونو، د ځنګلونو، د چینو مینه ده
زما په زړه کې د فطرت، د لپونو مینه ده

زه تر ابان د وخت چنګیز او یزید یو ګڼمه
له ما ملنګ سره د ټولو ښاپیرو مینه ده

پر شنه ساحل یې د بنګړیو شرنګ وزر خپروي
د موج پر شونډو مضطربه د نغمو مینه ده

په خپله وینه د غاټول کنډول ته رنګ ورکوي
له دې صحرا سره د مستو پسرلو مینه ده

ورمه له باده سره تله او دا یې هم وویل
ګل ته خو پسول د زر و زرو. لولکو مینه ده

یو لمر پرست ګل راته وویل چې راز دی په کې
د فطرت مینه بس همدا د پښتنو مینه ده.

په دې وطن کې د دستار سرونه کله پرېږدي
بې کاره وخت دی، څوك د كار سرونه كله پرېږدي

راته ښکاره ده، له بې شمېرو سرداران جوړوي
غمي- غمي هغه د شمار سرونه کله پرېږدي

وايي هغه هم ارتقاء ده، د اسمان په طرف
سیند ته يې اچوي، د دار سرونه کله پرېږدي

له رنګه جوړې دي، زمونږه د صحرا بربوکۍ
سپېره سبلۍ ده، د بهار سرونه کله پرېږدي

لس دي، که شل دي، خو يو ځوان خلکو په خوب ليدلی
خاوند به خير کړي، د ښامار سرونه کله پرېږدي

وايي زمونږه بادشاهۍ ته لېوني په کار دي
چې دا کیسه ده، نو هوښيار سرونه کله پرېږدي

دردونــه د زړګــي مــې دې جينــۍ راپــارولي
دا سترګې، سترګې نه دي، وخت مچۍ راپارولي

شپونکيه! غوږ شه، غر لکه سندره پورته لاړه
ويــده وه، قيــامتو ســتا شــپېلۍ راپــارولي

د خپلې چنې سيوری يې پېرزو په ملنګ نه دی
ډمبــرې د دېــوال چــې لېــوني راپــارولي

تــه ګوره سوې غره کې رنګارنګ ټوپکې ګرځي
چــا زاڼــو تــه نيـولي، چــا هوســۍ راپــارولي

ســکوت کلــه ناکلــه غزېــدلی ځــواب غــواړي
نغمـــې د بلبلانـــو دې غـــوټۍ راپـــارولي

شــته يــوه جذبــه پــه دغــه زړه کــې پــه درينچقـو
شــورونه يــې پــه زړه کــې د اوګــۍ راپــارولي

چــې ځــای د محبــت وي، شــېرنۍ راتــه يــادېږي
جــذبې د انتقــام مــې ملالــۍ راپــارولي.

بس تکه توره به شي، شنه شي جينۍ
په نه خبره پښتنه شي جينۍ

په مدعا مې چې ځان نه پوهوي
څومره ساده وړه- وړه شي جينۍ

لښتي پر سر کړه، تکه شنه لوپټه
زما پر قبر دې جنډه شي جينۍ

د قدر شپه وه، خو له لاسه لاړه
خدايزده که بېرته راستنه شي جينۍ

زما کاته يې کړي ګلاب د جادو
يوه د مينې فلسفه شي جينۍ

زما دښمن سره به روغه کوي
همدمه ما نه که خفه شي جينۍ

ارزو مې خود بيا تته- تته ښکاري
چې مې د خپل وجود حصه شي جينۍ

ښکلي په ده به نو څه وکړي، لېوني سړی دی
خپله ځواني به دې اوبه کړي، لېوني سړی دی

څوک چې ورځي، نو د جونګړې لارې وښويږي
څوک د هوا پر تخت ویده کړي، لېوني سړی دی

دا د مخونو اینه ده، خو که ځان کتی شي
همدمه بد دی او نه ښه دی، لېوني سړی دی

دې ته به نه ګورئ چې کومې خوا ته لمونځ کوي دا
د یار یې کور پر لمرخاته دی، لېوني سړی دی

دیدن یې وکړه، خو بس زړه به لویول غواړې لږ
تورو مارانو کې ویده دی، لېوني سړی دی

ژوندون د غره او چتول دي، ځان کې زور پیدا کړه
بنګړی خو نه یې چې به مات شې، یو څه شور پیدا کړه

که د جانان تر شونډو نه رسیږې، داسې وکړه
چې ورنژدې وې، ورته د هر هغه انځور پیدا کړه

یو پښتانه بل ته ویل، که دې دښمن قوي دی
په توره کله مري، اشنا ورته پېغور پیدا کړه

مور یو لحد جوړ اوه، خان راته وینا کوله
خانه خرابه، در په در یې، ځانته کور پیدا کړه

لکه د طور که سوځېدی نه شې، نو بله وکړه
دې سپین لباس ته دې بس لږ، د سترګو تور پیدا کړه.

# دوه بیتونه

د روح غوندې جینۍ ده، په جهان کې رانه ورکه ده
مه پوښته همدمه، بس په ځان کې رانه ورکه ده

ما د بر جومات ملا، مندر کې زړه بایللی دی
لاره د هندو او مسلمان راڅخه ورکه ده.

حقیقت او مجاز څه یو انتخاب دی
له احساسه راتو کېږي، نو حجاب دی

د ملنګ د زړګي اور، ګوتو ته راغی
لمبولی یې په اور کې نن رباب دی

ښه جومات ته شا کول، ستره ګناه ده
خو د زړه په ماتولو کې ثواب دی

هو! ملنګ زه د هغې پېغلې سکی یم
چې بابا یې د ټول بر ولس نواب دی

زه خمار، سترګې مې تشې پیمانې دي
په دې څه کې ستا بدن سراب- سراب دی

تنها ژبه د افهام لپاره نه ده
کله- کله خاموشي هم لوی ځواب دی.

هر څه که شي، د کايناتو ننداره نه کېږي
بغير له تا نه مې جانانه څه چاره نه کېږي

زما په رگ- رگ کې يې شرنگ د تقدس نخښېږي
چې سود د زړه مې په نغمو، په دوتاره نه کېږي

ډېرې خبرې يې په ښکليو سترگې وکړې راته
نه چې رانجه وي، هلته غږ نه شي، ناره نه کېږي

اسمانه هغه د جومات ملگرې چېرته لاړه
وايه چې صبر يې اوس ستا په سپاره نه کېږي

ته که د زړونو جهان نيسې، نو گلونه يوسه
د طبيعت چاره په توپ او طياره نه کېږي

# دوه بیتونه

ژوند شبه- شبه چاره- چاره تېر شي
وخت به مې په دې کلي کې ښه تېر شي
دا نهر نظر او ستا مړې سترګې
وړي له حجرو نه مېلمانه تېر شي

هر یو قدم، هر یو داستان نیمګړی
رب پیدا کړی دی انسان نیمګړی

ما دې لبان، تا مې تندی ښکل کړی
دا خو دې واخیسته تاوان نیمګړی

چې هر انسان په کې نیمګړی ښکاري
دی په فطرت کې دا جهان نیمګړی

چا یو د حسن مصور مړ کړی
پر زړه یې پاتې دی، جانان نیمګړی

ستا د بنګړو په شرنګ کې خه کوڼې وې
له زړه مې پاتې شو، ضربان نیمګړی

زه چې ملنګ شوم، هر سړی ځانته کچکول ګوري
په دې میدان کې هم سیالي ده، ځانته تول ګوري

سترګې یې داسې څه په ناز کې اوړېدې، ترهېدې
لکه په تور ماښام ځنګله کې هوسۍ شپول ګوري

نری باران، نری جامې درومي او داسې وایي
هغه سپین سترګی به دا ښکلی بدن ټول ګوري

د زړه له داغه ناخبره به صحرا ته وځي
چې د کوم خیال له دریځې نه به غاټول ګوري

دا مرغلرې، پسرلي، دغه زېور او وربښم
دا طبیعت دی چې سینګار ته دې یو پسول ګوري

د نورو خلکو افسانې زه حقیقت نه گڼم
څو د هوس بخرکی اور د محبت نه گڼم

دا د جنون او د جانان خبرې ټوکې نه دي
زه ډېرې مینې لا د حسن عبادت نه گڼم

پس له قیامته به هم ستا په لوري یون کومه
جانانه وصل د دې لارې، نهایت نه گڼم

له پښتنو سترگو دې وگرځم، د زړو دې کړم
دا د مغرب د سرو او سپینو کرامت نه گڼم

د صبر چل به رانه هېر شي، ځان راورسوه
نورې دې ژمنې د راتللو ضمانت نه گڼم

راځه تر څو به يو له بله انتقام اخلو
مور د ماينونو ډکه لاره باندې ګام اخلو

په دې وطن کې مينه جرم دی، په پټه کېږي
اوس خو نامه هم د يو - بل په احترام اخلو

ځان دې رسوا کړ، پېښورۍ نجونې به ګوتې ږېبي
د چا وينا وه چې رادرومه، دا غلام اخلو

مونږ د يو - بل لاره وينو، مونږه مينه کوو
ګوره ګردونه په لېمو کې د باګرام اخلو

د پسرلي مستۍ خبره، د مينا کړې ده
لکه نرګس چې چپه نه شي، داسې جام اخلو.

د ښکلا هره پېرزوینه راته غم جوړ شوی
زما په ګوتو کې له سره ګلابه بم جوړ شوی

د سریندې په څېر، د کړیکو په سرور پایمه
د مسیحا قاتل له توری مې مرهم جوړ شوی

مرګ او ژوندون د تقدس، د بندګۍ نامه ده
زما د شناختې له اروانه دا صنم جوړ شوی

د ذوالجناح ترر کابونو ځي، د زړه تارونه
خیر که میدان د کربلا په هر قدم جوړ شوی

خدایه! ته خپله سپیناوی وکړې، د هغو ښکلیو
چې یې ژوندون د عایشې او د مریم جوړ شوی

# دوه بیتونه

کله ناکله بې مقصده حسن، حسن نه وي
له تړي وپوښته د سپینو سرابونو ښکلا

په کاغذي سینو زرینې زلفې وغځوه
له حاشیو سره ډېرېږي، د بابونو ښکلا

✿

د خیال په ګوته مې نګین د محبت پاتې دی
چې ښاپېریو کې عادت، د رقابت پاتې دی

د زړه حرا ته مې لا وحې د جانان رادرومي
خلک دې وايي چې له مانه عبادت پاتې دی

په غنم رنګو پسې زړه چاودل، عجبه نه ده
دا له ادمه تر دې دمه، روایت پاتې دی

د سترګو توره، راته توري د غزل راکوه
زما په سترګو کې نیمګړی عبارت پاتې دی

**ساګکه!** لاره د هنر لوړې- ژورې لري
لا دې په مخ کې لوی ګړنګ، د ریاضت پاتې دی.

## درې بيتونه

نه راځې جانانه ښه پوهېږمه
بيا هم انتظار وي، چې دا ولې وي

بس چې شجره د ښکليو وګورې
ټول د ننګرهار وي، چې دا ولې وي

څومره چې وزګار دي، په دې کلي کې
تا سره يې کار وي، چې دا ولې وي

اوس د ځان په اداره باندې پوهېږم
ګنې هره اشاره باندې پوهېږم

ځه راکړې خوله دې ببرته رانه واخله
د تېرې په کفاره باندې پوهېږم

تا رټلی زړه به بیا هم ستا ملنګ وي
زه په دغه اواره باندې پوهېږم

د پرنګ ژبه مې نه ده زده، افغان یم
د پښتو په سپاره باندې پوهېږم

توتکۍ سترګې به مینه د بلال شي
د کعبې په مناره باندې پوهېږم

سندریزه مې د زړه پر حرا اوري
سلسله د ایتونو د قرآن یې

په وربښمین لاس کې دې واګې د تقدیر دي
ته مې پیره معشوقه، ته مې جانان یې

نه نګین لرم، نه تخت چې تا د ځان کړم
هو به هو لکه بلقیس، د سلیمان یې

اوس له خپل وجوده هم راته نژدې یې
نور به نه وایم چې ته خو زما ځان یې

سرچینه د عظیم حسن، د جانان وه
یوه څرېکه مې په زړه کې د ارمان وه

زمونږ ژوند د افسانو او د کیسو وه
قهرمانه مې د مینې د داستان وه

دا به لویه تراژیدي وي، که قیامت شو
لا نیمګړې خو نقشه د هر انسان وه

مونږه هېڅ بې هېڅه هسې منځ کې دل شو
کشاله د اهریمن او د یزدان وه

په الفت کې د باروتو ځای ونه شو
اسلحه مو د نرګس او د ریحان وه

د پرنګ د میخانو، له کوډو بچ و
د بنګي طبع هماغه د افغان وه.

✽

ښه نو د عقبا شم، د دنيا خبرې پرېږدمه
ښنګه به واعظه زه رښتيا خبرې پرېږدمه

ته زما هستي ته څه جواز د وجود وګوره
خپله به د ميو، د مينا خبرې پرېږدمه

ته دې پرونۍ خبرې لږې راپه زړه کړه بس
ټولې به د نن او د سبا خبرې پرېږدمه

لا خو د يزدان او اهريمن کيسه روانه ده
څنګه به د سوي او ستا خبرې پرېږدمه

هغه چې د سپينو زاڼو لړ په هوا نه ګوري
غواړي چې اوس زه هم د عنقا خبرې پرېږدمه.

نزاکت د پسرلي ورته پیغام دی
هر نرگس مې د لیلا د سترگو جام دی

څه قدرونه مشترك دي ورسره دي
چې مې کړی د هر ښکلي احترام دی

د دې کلي زاهدان په ما خبر دي
ستا په نوم مې پورته کړی هر یو جام دی

کاڼی نه و چې زما زخم به جوړ شي
سور گلاب راغورځېدلی له دې بام دی

دا حلال- حلال چې گرځم، بل څه نشته
له څه وخته ستا دیدن پر ما حرام دی

زور- طاقت د زلیخا مړوند کې نه و
خو ولچك او زولانه غریب غلام دی

اوس به هم نه وایمه تا ته چې جهان راکړه
زما لـه هر څه نه توبه ده، ما ته ځان راکړه

ستا امتحان کې خو ناکامه شومه، پرې تېره کېږه
اوس یې نو وخت دی، ګرانې ما ته امتحان راکړه

تا د امېل مرۍ راغونډې کړې، روانه شولې
زړه مې مات شوی، د هغه راته تاوان راکړه

ته خو شبنم یې په رنګ نه، نور ته کله وکړې
چې مې درکړی و، واپس هغه ریحان راکړه

خوب مې لیده بېګاه چې لارې جدا شوې زمونږ
دروغ درته نه وایمه، څه ګنې قران راکړه

اوس یې اثر چېرته دی ،
عقله خطر چېرته دی

زړه ته دې درځمه زه
وو ایه ور چېرته دی

ګوره یې په زړه کې خپل
حسن بهر چېرته دی

تګ دې په ما وو ایه
ډاره ډګر چېرته دی

خوله مې شوه اوبه - اوبه
شیر و شکر چېرته دی.

خال یې خپروم، ترېنه ځنګلونه جوړوم
د زرګو له سندرو نه به غرونه جوړوم

له مرګه پس به بیا هم زه د مینې علامت یم
د خپل بدن له خاورو نه ګلونه جوړوم

هر څیز لکه د یار وي، خو د یار په څېر مې نه وي
لګیا یمه، نیمګړي تصویرونه جوړوم

قربان دې له هجرانه زما عمر یو په لس شو
یوه شېبه چې تراشم، ترې کلونه جوړوم

ډېوو ګلان نیولي دي، پتنګه اور یې مړ دی
د ګل له نرمو پاڼو نه اورونه جوړوم

فطرت راته ویل چې غره لمن کاڼي راوړي
د کلي دغو ښکلیو ته به زړونه جوړوم

بس خو چې تللي زماني رانه شي
بیا به موسم د یارانې رانه شي

د ښاپېریو کډې تللې دي اوس
بېرته به تللې افسانې رانه شي

بویه چې خپل منزل یې ونه مونده
که دې تر هاره دردانې رانه شي

نور به په تېرو پسې نه ګرځمه
چې ضرورت د بهانې رانه شي

ساقي له شیخه سترګې پټې ساته
چېرته په لور د میخانې رانه شي

نن د غنمو لشي غشي وو تول
نن به مرغۍ تر اشیانې رانه شي

شمع که پرېږدي، د سېځلو ادا
پرې به یقین د پروانې رانه شي

ترې کوچېدلی سندریز "پسرلی"
بیا به بګرام ته ترانې رانه شي

ټوله استغنا شه، غرور راوله
راوله جانانه سرور راوله

بندې لا په کانو کې هندارې دي
وايه بنجاره ته چې نور راوله

زر کوهسار تيږې مې پر زړه اوري
خير دی څه جلوې خو په طور راوله

ډېره مې يادېږي، گوره مړ به شم
نن خو يې رېباره! ضرور راوله

نه شمه لوستی لا د خلقت کتاب
ته مې په دې کربنو عبور راوله.

رنګ پسي سترګو کې کچکول ګرځوم
په زړه کې داغ. لکه غاټول ګرځوم

وايي له اوښکو سره وړي ترې مينه
نور به زړګی هم خپل په تول ګرځوم

لا خو مې نه ده هېره کړې هغه
لا يې يادونه ټول په ټول ګرځوم

چې له سپوږمۍ مې تاوه کړې نه وي
زه به مې غبږ. لکه د شپول ګرځوم

زه شفقونه د بوډۍ ټالونه
د چا لپاره. لکه پسول ګرځوم

شيخ له ساقي سره خه پټ ووايي
چې له تسبو سره. کنډول ګرځوم

❀

څـــه شـــوه، د مینـــي هنګامـــه چېرتـــه ده
زمـــا زارۍ، ســـتا بهانـــه چېرتـــه ده

لکـــه انځـــور یـــي د مثـــال د عـــالم
لـــه تـــا نـــه ښـــکلې فلـــسفه چېرتـــه ده

جنـــګ تـــه بـــه پـــاتې شـــوې ترلـــې کـــولې
نـــشته د قـــام هغـــه جذبـــه چېرتـــه ده

د زړګـــي داغ پـــه رغېـــدو دی زمـــا
اوس دې د خـــال هغـــه جلـــوه چېرتـــه ده

چـــې خـــدای پـــه شـــونډو د ګلانـــو کـــې و
هغـــه صـــادقه واهمـــه چېرتـــه ده.

جانانه هسې درته ښه نه شومه
ګنې نو زه له څه نه څه نه شومه

ته که ویده وې، ستا ښکلا ویښه وه
ځکه خو ټوله شپه ویده نه شومه

اناپرست پښتون دې ځار کړم له ځان
زړه به مې وڅوي، که دې زړه نه شومه

روغ حقیقت ورته سراب- سراب شو
خپلو ملګرو ته اوبه نه شومه

له سرو او شنو نه بره والوتمه
زه په رنګونو کې ویده نه شومه.

نجونو کې پته شي، راوګوري بیا
د جنګ مورچل په دومره چل بدلوي

هغه بدلېږي او که نه بدلېږي
همدمه ما به مکمل بدلوي

جانان دې خیر دی، که شړۍ نه لري
خو ستا کمیس به په بخمل بدلوي

زما وژل خو ضروري دي په کې
خو ورځ په ورځ راته مقتل بدلوي

جینۍ زما خوا ته راورسېده
اوس به انداز د خپل مزل بدلوي

د وظیپات غوندې مې ښکل کړل، بزرګان لاسونه
څو چې ډېرېږي، اوس دې ډېر شي، د جهان لاسونه

د مې کشۍ هغه تینده ک له ما نه نه هېرېږي
چې یو ناڅاپه رانه تاو شول، د جانان لاسونه

تر ستورو ر...ي. د یتیم پر سر یې سیوری نه شي
دا څومره لنډ شول چې اوږده شول. د انسان لاسونه

یو خو غریب نه دی له چا- چا نه به لاس غوځوو
راځئ چې لنډ کړو د قحطۍ، د ترابان لاسونه

ستاسې به هسې نېکنامي وشي. زړور رادرومئ
د اهریمن لپاره بس دي. د یزدان لاسونه

که ورته ځیر شې څوك به وي. د هر یو غشي شا ته
بې ارادې قتلونه نه کا، د کمان لاسونه

یوې خپېرې یې د سروې مخ لمبه- لمبه کړ
تا ته زرین ښکاري اشنا د شنه اسمان لاسونه.

# دوه بيتونه

لوی جنت یې وغوښت. یار یې نه و یاد
نن مې د زاهد ارمان ته وخندل
ژاړي دې خوبان له زلیخا سره
مالکه یوسف زندان ته وخندل.

عقل ته تر داره لاره ډېره ده
ډېره ده تر یاره، لاره ډېره ده

لا خو تشې سترګې جنګوو مونږه
دلته تر اظهاره لاره ډېره ده

ډېرې مرغلرې ستا په لمه دي
رابه شي تر هاره، لاره ډېره ده

دا خو ابتدا ده، د الفت د لار
سر نه تر سرکاره، لاره ډېره ده

بیا د کنډولو ټکر کې وګوره
خم نه تر خماره، لاره ډېره ده

ساندي پر ځای پرېږدئ، ځئ چې ځو پسې
غم نه تر غداره، لاره ډېره ده

شته تود- سړې په دغه لاره کې
ابره نه ابشاره، لاره ډېره ده.

❀

ستا د پښتو ګوټو، پښتې سندرې
پر ټول وجود مې اورېدې سندرې

څه معجزه وه، د منګي او ستار
په برګودر کې نڅېدې سندرې

نجونو چې لېڅو ته بنګړي خېژول
له يو مړوند نه تاوېدې سندرې

د زانو لړ به شوې د زړه پر فضا
ما به په سترګو هم ليدې سندرې

اوس ځو مين يم، چې ماشوم ومه لا
زما به ډېرې خوښېدې سندرې

سترګو دې سترګو نه حيا کوله
که پر هنداره ښويېدې سندرې.

دا چې بد ستړګې، که ړانده شي ستوري
چې ما او تا ته په کاته شي ستوري

فلك له مځكې سره جوړه نه كړي
خلك چې ويښ شي، نو ويده شي ستوري

زه يې په مخ كې ستړګې دا سې وينم
لكه د لمر خوا كې رانه شي ستوري

يو يې د بل له خنګه ليرې تښتي
كله نا كله پښتانه شي ستوري

دا پلوشې څه معجزه خو نه ده
ستا په ديدن پسې اوبه شي ستوري

ستا دې د هار مزي كچه وخېژي
چې پر پالنګ خواره واره شي ستوري

زړګیـه سـتا د ریاضـت شـیبې یـې نـه درنـوي
پـه حافظـه د هـر صـنم کـې زمـانې پرتـې دي

خوب کـې مې تـاج د پرستـان لـه ترابانـه کـوز کـړ
د تعبیـر غوټـو کـې لا ډېـرې تلوسـې پرتـې دي

لکـه د شـنه ځنګـل د خیـال، شـنه زمانـه بـه راځـي
زمـوږ پـه وینـو کـې دانـې خـرې- خـرې پرتـې دي

هغـه چـې تـل بـه یـې لـه لـوړې نـه ډالونـه خـوړل
د زنګ پـه تېکو کې یې څه توري درنې پرتې دي

سیوري نه، د زلفو یې کاته راځي
شپه چې تکه توره شي، نو غله راځي

توري دې پر شونډو چې پاسته راځي
پټه په وربښمو کې چاړه راځي

ما ته ټول چلونه ګوره ښه راځي
ژوند کې پر هر چا تاوده- ساړه راځي

بیا مې د زړګي پر سر بلېږي اور
بیا مې اسوېلي ساړه- ساړه راځي

یاده د لمرمخې بېرته وګرځه
اوګنې پر سترګو مې تیاره راځي

حسن بې له عشقه وطن نه لري
اوس به زموږ کلي ته پاخه راځي

خیر که په باګرام کې خیبري شومه
ښار ته خو له غرونو نه اوبه راځي

# د هوا او ځراغونو شاعر ته!

د نورو خلکو که پر ستورو، پر فضا جنګ دی
زمونږ وطن کې د ژوندون او د بقا جنګ دی

لا خو حسین او یزید اوس هم روغه نه ده کړې
دا هر یو جنګ د خیر و شر او کربلا جنګ دی

ګورو په کوم ډګر، له کومه اړخه ماتې خورمه
له خپل وجود سره تر اوسه لا زما جنګ دی

د کایناتو د تعمیر کیسه نیمګړې بریښي
لا خو جاري د بدرنګۍ او د ښکلا جنګ دی

مونږ به زړونه فانوسونه کړو، رڼا به ورکړو
که ځراغونو سره نښتی، د هوا جنګ دی

په یو سلام کې نغښتې څو ګیلې به ورته لېږم
مرموزې څو خبرې، تلوسې به ورته ګورم

پخلا نه شوه ریباره، بس افشا د محبت ده
سپین روبی ورته ګورمه، جرګې به ورته لېږم

د زلفو په تیارو کې ترېنه خپل ښایست ورك شوی
نن سترګې سرې کومه، دوې ډېوې به ورته لېږم

منکره له ماضي ده، خپلې ژمنې ترېنه هېرې
خطونه یې ورلېږم، نښانې به ورته لېږم

لیدلې مې زیارت کې، ګوندې ومنې سوغات مې
بنګړي ورته وراستوم، زولنې به ورته ګورم

عطرونه د پاریس یې د اختر ډالۍ کې راغله
د مړاوو- مړاوو ګلو، ګلدستې به ورته لېږم

د خیر او شر یې خوښه، زه خو مینه ترېنه غواړم
پیالې به ورته واخلمه، تسبې به ورته لېږم

زمونږه ملنګانو لاس له هر څه نه خالي وي
دعا د شینّ سحر او نیمې شپې به ورته لېږم.

# يو اشنا ته!

ستا هغه وعده او دا سفر اشنا
تېرې دې اوونۍ کړې، سر پر سر اشنا

مونږه داسې جوړ يو چې سبزي مو زنګ
نه راځو توبه ده، پر ګودر اشنا

ورکه ډېوه، ورکه ده تر اوسه لا
ګرځمه تر اوسه در پر در اشنا

تورو سترګو، تورې کوډې کړې دي
سبزي مې د ژمي مازيګر اشنا

ستا پيکر به تراشي، د پامير په غر
ستا هغه شاعر، هغه بتګر اشنا.

دا سندرې د چا ناز دی
بربنه شوی غوندې راز دی

د محمود نوم چې یادېږي
یو غلام د ده ایاز دی

په ژوندون هم زرکې ښکار دي
سوی- سوی یې اواز دی

توتکی ده، خو بابښه شي
متضاد یې هر انداز دی

د بل خیز په خبر ښه نه یې
رب درکړی امتیاز دی

”**مصطفی**“ پر غرونو سر شو
د خیبر د لوړو باز دی.

په تاکې وينم زه د سلو افسانو رنګونه
د قصيدو، د شنو غزلو، ترانو رنګونه

لکه چې سر زموږ فصلونه ټول بې وخته ژېړ شول
داسې بدلېږي اوس زموږ د يارانو رنګونه

کيسه اخره شوه، خو هېڅ ثمر يې ونه ليده
اوس بدلوي راته د ټولو بهانو رنګونه

يو تسلسل د پرېوتلو، پاڅېدلو و ټول
يوه موزيم کې مې کتل، د زمانو رنګونه

ته به چې راغلې، د هغوی رنګونه نه ښکارېدل
په تا پسې مې لټول، د پيمانو رنګونه

مونږه ډال شوي وو، مونږ خپله ځاله نه لرله
مونږه له تندر نه ژغورل، د اشيانو رنګونه.

گرځـــوي اوس ميـــره رښـــا ســـترګو کـــې
نـــاځي غزليـــزه نـــوا ســـترګو کـــې

لـــږ څـــه پېرزوينـــه يـــې ملګـــرې وه
رايـــې کـــړه ښـــه لويـــه سزا ســـترګو کـــې

سـيوري لـــه ښـو نـــه يـــې تاجونـــه ځـــار
ښـــکاري يـــې ســـايه د همـــا ســـترګو کـــې

څنګـــه بـــه زه پورتـــه ورتـــه وګـــورم
تـــوره شـــي، تيـــره شـــي حيـــا ســـترګو کـــې

ګـــوره چـــې د پـــاڼې غونـــدې ربږدمـــه
نـــن يـــې ده ښـــودلې رضـــا ســـترګو کـــې

ســـتورې دې ډېـــوې شـــي، چـــې يـــې وشـــيندم
مـــا يـــې ده ليـــدلې بهـــا ســـترګو کـــې

زړه مې لاره. رانه چا ښکلي په يو ناز وړی دی
دغه مرغه خو موده وشوه چې يو باز وړی دی

چې زمانې به يې د نال څرك ته تاجونه ښبل
د مينې زور دی، زړه غلام زړه يې اياز وړی دی

هغه چې ما ورپسې ستوري د اسمان کچ کړي
يوې جينۍ مې له غمي نه هغه راز وړیٔ دی

زما په کاڼي- کاڼي زړه کې يې ارمان راويښ کړ
رنجو، نو کله ستا له سترګو نه اواز وړی دی

چې دا مرمر به کوم محل له ښکلا وربښي
د لوی نيکه د شناختې کاڼی مې غماز وړی دی

گیردی په ښیښنه کې ستا جمال پاتې نه شي
حجاب زموږ د مینې دی، د ښوال پاتې نه شي

ورمه ستا د وجود جوړ اراده د طبیعت ده
چې زلفې راخورې کړې، نو شمال پاتې نه شي

د ستورو له شنه فصله یو الوت کول په کار دی
دا ورځې، دغه شپې به لکه جال پاتې نه شي

که داسې په طالب پسې د غره ځنګلي سوځي
د وربځو په محراب کې به شین خال پاتې نه شي

چې کرښې د تندي دې عبارت د حاشیې شي
خبره معما وي، مګر سوال پاتې نه شي

غوربړي د مغرب بادونه ځانه سره وایي
پر سر د مشرقي جینۍ به شال پاتې نه شي

مـــوده وشـــوه چـــې تـــه تللـــې يـــې ملگـــرې
مـــا پـــه يـــاد كـــې تـــل كرلـــې يـــې ملگـــرې

ســـتا د مينـــې قربـــاني نـــسه شـــوم، ژونـــدی يـــم
لكـــه مـــا چـــې تـــه وژلـــې يـــې ملگـــرې

پـــه بنهـــو مـــې ســـتا د لارې اغـــزي تـــول كـــړل
د لـــستونهي مـــار چيچلـــې يـــې ملگـــرې

لكـــه لمـــر د نـــرۍ وربـځـــې لوپتـــه كـــې
د خيبـــر پـــر ســـر ختلـــې يـــې ملگـــرې

څـــرك د ســـترگو دې كيـــسه راتـــه رنـــه كـــړه
پـــر يـــو عمـــر غځيـــدلې يـــې ملگـــرې

❀

کږه- وږه لکه ویاله له لرو- لرو راځي
لکه ښازو خوږه وږه شي، پر خبرو راځي

زه که پر هر طرف روان شم، ستا کاله ته درځم
څه ته مې پله پسې اوس پلونه ستا د زړو راځي

بیا پسرلی شو، جوړې بیا دې پر زړه واوربدم
له نن سحر نه پیغامونه د سندرو راځي

د چا پر کور باندې قیامت دی، ضرورت یې یمه
چې په شپېلۍ کې سلامونه د ملګرو راځي

نجونې په کومو خوږو سپینې شونډې توري کړې اوس
د اور د تورو بارانونو پر ګورګورو راځي

❁

هغه زلمي نه د دښمن مخ ته وسله پرېوته
چې هديره کې نن زړه غوندې جنده پرېوته

د دې سپرغۍ به تر پېړيو پورې اور وشيندي
پر پورې کلي يې له گوتو نه لمبه پرېوته

سبا به سل سرونه ځيل کړي د نېزو په څوکو
له دې سړي نه دا پگړۍ چې سرچپه پرېوته

د لمر وژل، دومره وړه حادثه هم مه گڼه
يو تور زندان ته دا روانه زمانه پرېوته

هغه فقير چې خلکو وايسته په جبر باندې
يوه بلا پر دغه کلي هغه شپه پرېوته.

د گل له پاڼې - پاڼې اوربدلی یو کتاب
په آب د مرغلرو دی وینځلی یو کتاب

د لمر د تودو وړانګو ذوق یې لولي په فضا کې
د پرخې په دسمال کې درنه تللی یو کتاب

بلبل یې د زبور په څېر په مینه تلاوت کا
د ګلو تخم نه دی، چا کرلی یو کتاب

دا هر چمن چې ګورې، یوه پاڼه د پیغام ده
د وربځو له سروره اوربدلی یو کتاب

لوګي دي چې د زړه پر فضا لیکي غم د مینې
په سترګو د جانان کې سوځېدلی یو کتاب

چې خلکو به ګڼلی یم، یوازې پاتې شوی
سپېڅلې ملګرتیا ته مې راغلی یو کتاب

زه دې شینکي اسمان لیدلی یمه
خدایږو پوره په تول ختلی یمه

په پورته تلل به حوصله وغواړي
ایله سینې ته درختلی یمه

زه څه ځونډی د لونګین خونه یم
چې پر سینه دې زنګېدلی یمه

ستا د بدن شغله تر لرې لاړه
په هره پېغله غولېدلی یمه

د سرو ګلونو د اغزو لپاره
شپه- شپه زه اورېدلی یمه

هر یو توپان او حادثه دې راځي
لکه د غره، لا درېدلی یمه.

د ګل په مينه کې ټول عمر پر ازغو راغلمه
عالم پر پښو باندې راته، زه پر ېنو راغلمه

ستا د ښکلا د جزيرو مزلونه ژوند و زما
لکه د موج پر لوړېدو، پر غورځېدو راغلمه

ستا د قدم نخښو مې دومره رهبري کړې ده
چې ګناهګار ومه، خو اوس دې تر پښو راغلمه

د مينې لاره وه، نقشه يې حافظه کې نشته
لوړې- ژورې وې، پر سمو، پر کږو راغلمه

د هر يو شنه بوټي پر سر باندې شمله ګورمه
په پسرلي کې پر شنو غرونو، تاترو راغلمه

هغه ګلاب يمه چې نجونو نن پرې لاس لګاوه
لمبه- لمبه شوم، پانه- پانه پر اوبو راغلمه.

سره ګلونه ترېنه تللي دي، خزان دی
بيا له زرو نه جوړ کړی يې پغمان دی

د لښتيو ترنم يې ښه په شرنګ دی
په اتڼ، پر شنه قالينه راروان دی

له حوضونو نه يې شني ونې تاو شوي
که حجاب د ښاپېريو نګهبان دی

دا ژيړې مازيګرې، د غرونو څوکې
د سنګدلو، طلايي لباس په ځان دی

دښمنان د تور توپك شپېلۍ وژلي
غورځېدلي څو- څو ځله دا اسمان دی

غرونه- غرونه دېوالونه ترېنه تاو دي
لويو خلکو ته ضرور داسې مکان دی

دا د ستورو ماڼۍ رنګه کړه وختونو
که دا قبر د شاهانو، د جانان دی

باد پر پېغلو ونو ځغلنده تېرېږي
څومره نېك دغه زودرنجه هوس ران دی

شين بهار د وچکالۍ په تېغ شهيد دی
خو ښايسته دې د شهيد زلمي ارمان دی

د مولا د نازولو حکومت دی
لا جاري پرې د "لکن" ولي فرمان دی

دا يې مځکه، لکه نوی سوری- سوری ده
چې کاریز يې د نغمې پر سر روان دی

پر غونډۍ يې د ننګ برجونه خېژولي
لوی فطرت يې لاندې کړی، تر خپل ځان دی

بس د غرونو پر اوږو چپنې نشته
ګنې دا هم لوی رقيب د نورستان دی

د ماښام ستوري په خوند ولس ته ګوري
ته به وايې، راوتلی له زندان دی

لارويه! اوس به کومه ښکلا غواړې
دا هوا. دغه اوبه، دغه پغمان دی.

✽

ورته منت خوب کې کومه چې تر گوره راځي
دا د رضا خبره نه ده، دا په زوره راځي

د بېلتون باد ته اشنا هره یوه پاڼه رپي
د نی نوا ده چې راځي، له هره لوره راځي

په پټو سترگو د یو ځوان کې مرغلرې لرم
څه سندریزه مرثیه د خوږ له شوره راځي

دغه د سرو جامو جینۍ، دا په ترخ څه راگوري
زما زړگي ته یو سپرغۍ له دغه اوره راځي

ستا په لېمو چې ساقي ټول به تر سحره زانگي
باده خورو ته دومره وایه چې بس نوره راځي

غوړې خبرې له لاسونو نه جنډې ښویوي
د جنگ ډگر کې مې خبره ځکه سپوره راځي

خدایه! سحر شو، انتظار ویښ دی
مرهم ویده شو، خو پرهار ویښ دی

د میخانې ملګري خوب وړي دي
توبې وباسي، ګناهګار ویښ دی

کله حیا، کله سندرې حجاب
جینۍ ویده شوه، لا یې هار ویښ دی

د مولانا د ملنګانو په څېر
ګوره د شنو بنګو، بنګزار ویښ دی

د ملکې د تاج نګین یې ګڼم
هغه چې خوله کې د ښامار ویښ دی

## دوه بيتونه

مــه راتــولـــوه پـــه دومـــره ځنـــډ کمـــيس
اور غونـــدې تـــاوېږي درنـــه لنـــډ کمـــيس

ســـتا د پېغلتـــوب پـــر اور بـــه وســـوځي
دا زمـــا او ســـتا تـــر منځـــه خنـــډ کمـــيس

کـــار د زړه چـــاودون دی ګلـــه ســـتا کتـــاب
اوښـــکې دې پرانيـــزي، د موســـکا کتـــاب

خـــدای دی چــې خـــدايي بـــه رنگـــوي خپلـــه
اور لمبـــــه کـــــوي، د اوســـــتا کتـــــاب

يـــــو دی د همـــــا او جبرائيـــــــل وزر
رايـــې وور جنـــت نـــه، د ســـوما کتـــاب

بـــس پـــه پـــښتني او پـــښتنو تپـــو
رب ســـندريز کـــړی، د دنيـــا کتـــاب

ايـــښی دې مـــدام وي د زړګـــي پـــر ســـر
څـــه لـــري اعجـــاز د "**مـــصطفی**" کتـــاب

ومـــې وينځـــه شـــيخه پـــه صـــهبا کتـــاب
ســـپين مـــې شـــو پـــه ســـر کـــې د ســـودا کتـــاب

غوښـــتي هنرمنـــد جانـــان پـــه ليـــك کـــې دي
يـــو د "**پـــسرلي**"، بـــل د "**شـــيدا**" کتـــاب.

په خلوت کې مې اکثر مخې ته راشي
ستا تصوير مې د نظر مخې ته راشي

توبه ماته کړم، له خپله ځانه وځم
خو خودي مې لکه غر، مخې ته راشي

په دې وخت کې اوربلونه هم خپرېږي
چې تياره د مازيګر مخې ته راشي

واړه خلك د اغيارو دښمنان دي
څو وګړي د لښکر مخې ته راشي

د ښايست جلوه بربنډه په کې ګوره
چې ډالونه د خنجر مخې ته راشي

چې جذبې مو کنګلېزې شي، لګرو
څو تورمخي به د لمر مخې ته راشي

چې د سترو سخنورو تذکره وي
له خړ کڅ سره خيبر مخې ته راشي.

مینه هم لري، که څه افسون لري
سترګې د لیلا، زړه د مجنون لري

هیڅ به د اغیارو په خوله نه وایې
غږ خو د کارغانو بد شګون لري

خدای دې دا هنداره بدن وساته
دا سپېرې سېلۍ خو به ګردون لري

مینه یې رسوا د زلیخا په څېر
عقل او منطق د افلاطون لري

خود به زه بدلېږمه شېبه- شېبه
خوی دغه فطرت چې د بدلون لري.

## بیتونه

دا که ناکام وي، نو ناکام یې ما پر سر اخیستی
اوس خو زما ده، هر الزام یې ما پر سر اخیستی

د سل وعدو له ماتولو نه مې پس ښکل کړې
همدمه پرېږده، هر انجام یې ما پر سر اخیستی

څه مو بېلوې، اوس د قضا په تار تړلي یو
دواړه د زړګوټو، د درزا په تار تړلي یو

وی یې څنځیرونه شلول، هم راته ممکنه ده
څه وکړو جانانه د حیا په تار تړلي یو

ژر راځه قاتله بندیوان کړو د سرور جبر
تا ته یې د ستورو د رڼا په تار تړلي یو

ډېر که د مغرب شم، بیا مې راکاږي دا خپل ولس
زه او ماضي دواړه د خامتا په تار تړلي یو

زلفو سره خوند د څنځیرونو د شور کله وي
نه یم لېونی، خو د اشنا په تار تړلي یو

په زړګي کې مې جانانه اور بلېږي
غرونه- غرونه ښه پرېمانه اور بلېږي

ستا پرې څه که اشيانې د خلکو سوځي
په اوبو کې دې اسمانه اور بلېږي

بس هم مور د وچکالۍ د ورځو درب يو
هو! پر مونږه په اسانه اور بلېږي

دا لمبې خو يو نمود دی، د صفاتو
هوښياران وايي: له ځانه اور بلېږي

دا کچه ځواني دې سوځي، مينه پرېږده
په زړګي کې دې روښانه اور بلېږي

مه کوه نيت، د محبت مه کوه
ما سره داسې حرکت مه کوه

وايي چې اوښکې دې غمي دي زما
له لېوني سره الفت مه کوه

ملنګه لوړې مرتبې ووينې
بس خو دعوه د کرامت مه کوه

زما له شرمه سترګې ښکته شولې
تا ته نو چا ويل چې ست مه کوه

ريباره زړه يې ستا په سترګو کې دی
ته يې په ژبه روايت مه کوه.

د شین پوشۍ سترګو کې جام رپي
شکر، جنده زما د قام رپي

زما د زړه ترجماني به کوي
سمسور ګلونه دې پر بام رپي

کسه د ټولو زیارتونو ډېوې
په کې جذبه د انتقام رپي

ټولې شملې لکه جنډې د ګلو
د یو سړي په احترام رپي

زه په تودو اهونو څه وکړمه
لکه نرګس دې هر اندام رپي

❁

ته به ښکلې يې جانانه او زما مطلب به څه وي
دنیا راز دی په تیارو کې، د دنیا مطلب به څه وي

بس خو لړ به له باګرامه دې يورپ ته پورې وځو
بیا به ګورو چې عشق څه دی، د ښکلا مطلب به څه وي

هلته دغه کلی نشته، کلی هم بې میکدې دی
اوس نو دا کمی د څه شو، ګرانه دا مطلب به څه وي

دوه رنګونه د فطرت دي چې انسان دلته راوړي
دا ژړا د چا عمل دی، دَ خندا مطلب به څه وي

عشق او سترګو په یو ناز کې دا خبره تاووله
دا د زړه څړیکې په څه دي، د درزا مطلب به څه وي

لېونی يې لارویه د دنیا خبرې پرېږده
د هغوی مراد به څه وي، دغه ستا مطلب به څه وي

# قطعه

ما چې د زړه پر سپینه پاڼه کوم کتاب لیکلی
یوې جینۍ یې د سپوږمۍ پر مخ ځواب لیکلی
د زړه په وینو محبت لپاره توري وینځي
شاعره ستا په نوم یې څومره لوی ثواب لیکلی.

❁

دا خبره به رښتیا وي، خپلولی دې هم نه شم
خو د ټولو نجونو میرې! هېرولی دې هم نه شم

چې مې ته له زړه نه وځې، دا ممکنه راته نه ده
زه د جبر بندیوان یم، یادولی دې هم نه شم

یو تصویر د تصور دی، ما ته بس دی تر ازله
ښکلول دې ناممکن وي، درکتلی دې هم نه شم

دا غاټول زړه خو مې ګورې، یوه کیسه په دې کې نغښتې
خال د سپین تندي دې نه شوم، ښکلولی دې هم نه شم

بس دوه مخې کړو جانانه څو ناچله روایاتو
یوه ته په کې اشنا یې، پېژندلی دې هم نه شم

څه خوږې دي ستا خبرې، ای د مینې لارویه
تګ مو هم سره ناشونی، درولی دې هم نه شم.

لېونتوب ښه و ، ستا پر سترګو يې باور ونه کړ
ګنې نو تا خو د پخوا غونډې نظر ونه کړ

پس د اضدادو مجموعه وه، ستا د مينې کيسه
خو زه نيمګړې ومه، ما درسره شر ونه کړ

زه به نو دې خلکو ته څنګه پښتانه وايمه
د ګودر لاره جوړېده، خو چا اشر ونه کړ

ښکارې چې پس له مرګه لويه هنګامه خوښوې
دغه شاعر چې نمايش د خپل هنر ونه کړ

هغه "**سالک**" دی چې يو څرک نظر به لولپه کړ
نن تورو کوډو، تاويزونو پرې اثر ونه کړ.

پـه الفـت کـې شـپه او ورځ ادل بـدل شـي
لمرخاتـه سـره پـر لاره ډېـوې راشـي

عجيبـه ده، خلـك سـترګې ترېنـه واخلـي
خـو سـبا يـې تـر مـزاره ډېـوې راشـي

بلـبلان يـې پـه موسـکا کـې ځـان سـتي کـړي
ښـکلې- ښـکلې تـر بهـاره ډېـوې راشـي

زه لمبـه شـم، د هغـې زړګـي پـرې يـخ وي
چـې لـه بحـر نـه تـر هـاره ډېـوې راشـي

تـه دې پرېـږده پتنګـان چـې لېـوني شـي
يـوه ورځ بـه ننګرهـاره ډېـوې راشـي.

تـه چې رانـه درومې، اوس څـه اشـنا پـه څـه ارزي
بـې لـه حـسنه ووايـه دا دنيـا پـه څـه ارزي

لمر چې کله څرك وهي، مونږه سترګې پټې کړو
پيـر دى د سـپوږمۍ، ګنـې دا رڼـا پـه څـه ارزي

رقـص د بړبوکيـو هـم لويـه فلـسفه لـري
مه وايه چې ځي کېږدۍ، اوس صحرا پـه څـه ارزي

تـول زمـا د سـترګو کـړي، تـا د کـوه نـور الماس
وپوښـتـه هنـداره دې، سـتـا ادا پـه څـه ارزي

سـرو سـترګو سـاقي دې تـا نـوى تغافـل وکـړ
اور دې ځانتـه وکـره، دا سـزا پـه څـه ارزي

مینې بدل کړل ستا نازونه، ستا خرام ملګرې
سترګې دې لولي اوس عالم، زما د جام ملګرې

نوې خبرې مې راوړې چې تمهید نه لري
راشه چې مات کړو روایت، د تش سلام ملګرې

اوس انتقام له ما نه نه اخلې د بدو چارو
ښکلی انداز دی بس همدا، د انتقام ملګرې

خود به نرګس زرغونوي، خود به ریحان شنه کوي
چې خپلې سترګې مې کرلې، ستا پر بام ملګرې

ماتې چمبې ستا د همزولو مور ګټلې نه دي
له مور نه هېرې دې تپې، د ننګ و نام ملګرې

ښخ پـر زړه مـې سـتا بانـه راتـه معلـوم دي
زه پـښتون يـم، مېلمانـه راتـه معلـوم دي

بـس يـو څـو د غـنم رنګـو مريـدان دي
پـه دې ورږو کـې مـاڼه راتـه معلـوم دي

اشنا هېـر کـړي، ټـول زمـا سـترګو تـه ګـوري
رقيبـان مـې واړه ښـه راتـه معلـوم دي

شـيخه سـتا د لاسـنيوي لـه زوره نـه يـم
عادتونـه مـې د زړه راتـه معلـوم دي

د يـار کـسي يـې د زړه داغونـه نـه دي
سـترګورو کـې ړانـده راتـه معلـوم دي.

خندېده لکه مینا زما په مخ کې
څه نشه- نشه ادا زما په مخ کې

زما سترګې د تیارو د زمانې دي
جوړه شوې ده رڼا زما په مخ کې

د مرمرو لاس یې پورته کړ، الله ته
ښویېدله ترې دعا زما په مخ کې

انتها د خیر و شر ته مې تادي ده
چې یې شوې ابتدا زما په مخ کې

وایي بل زړه یې سینه کې په درزا دی
لاړه مړ شو "مصطفی" زما په مخ کې

د روح پر سیمه مې ورېمه د خپل منزل اوربېږي
اوري دې څومره، چې اوس غشي د اجل اوربېږي

پر دغه لاره به شین کېږي، د نکریزو فصل
شېبې د اوښکو مې جانانه ستا پر پل اوربېږي

په تورې، تورې کې یې ښکلې توتکۍ راغلې
د هسك له دنګې مناري نه دا غزل اوربېږي

بې له ملګرو رسېدل به رسېدل نه وي نو
چې پر زړګي مې خاطرې د پاتې مل اوربېږي

زما د زړه فضا زرداري لا اخیستې نه ده
نرۍ- نرۍ به پر هر ګل، لکه شبنم اوربېږي.

چې د غمونو تسلسل کې مې رویا راشي
د زړه غوټۍ ته سوغاتونه د موسکا راشي

څوك پرښته ده، وايي زه درته له ستورو راځم
کلی بس دومره پرې خبر دی، چې رڼا راشي

منمه بیا به ته د مینې پر لار نښغ روان یې
چې پر هر ګام درته په مخکې ابتلا راشي

د اتومي زماني ښکلي له جادو نه جوړ دي
د اوښکو څاڅکو کې به زر، لکه خندا راشي

زما جانان وايي چې شرنګ يې تر تا مخکې اورم
که تصور ته مې سندره له فضا راشي

همدمه خنګه ورته ووايم چې خوښه مې يې
خدای دې راضي نه شي، چې مینه کې ریا راشي

دا ښایست نه د چینې او نه د غر دی
دا زما د زړګي رنګ، زما نظر دی

خدای دې مل او سه د مینې لارویه
په دې لاره کې مرګونه دي، خطر دی

زه د ځان پېژندګلوی پسې روان یم
که عالم پوښتي، نو ټول له ما خبر دی

چې د هر سري له سترګو غورځېدلی
ما ته ټولو کې همدغه معتبر دی

ناروا وې چې روا د چا په نوم شوې
عجیبه ده هغه خدای او پیغمبر دی.

دلته که تاك کړې، نو زړې مار شي
د خدای قانون دی، هر وګړی مار شي

د مینې لاره ده، خطر هم لري
زلفې خو زلفې دي، چې پړی مار شي

دنیا یې وهم بولي، نوم یې نه وي
که پر صحرا درته سرګړی مار شي

چې زلفې ونیسې، له لاسه ووځي
لکه چې مړ نه شي، نیمګړی مار شي

بس که زما شونډې ورورسېدې
بیا نو هغه لکه دم کړی مار شي

زما زړګی د سپینو اوښکو په ځنځیر تړلی
دا لېونی پس له مودې د مینې پېر تړلی

ښه راته یاد، هر سړي ورپسې ګام اخیستی
کوم یو بیرغ چې په دې کلي کې امیر تړلی

د واسطې له بریده لیرې تلل به ګران اوسي نور
دغه ملنګ هم په جونګړه کې یو تیر تړلی

یوازې دی د خپلواکۍ په مانا ښه پوهېږي
چې له اوله بند پر بند باندې تقدیر تړلی

چې د ځنګله د شنو پوټکو پړی وشکېد کله
دې انسانانو جوړ په هغه ورځ ضمیر تړلی

پټې د صبر ترېنه پرېوته، پرهر سوځي
ګوره د واورې تر څادر لاندې سپين غر سوځي

د چا تر ګوتې رسېدل، تړون د عمر کېدل
دا مرحله اسانه نه ده، دې کې زړ سوځي

څه ملامت يم، که مې ته لا پېژندلې نه يې
ستا د ښايست په پرتونو کې نظر سوځي

سترګې دې هلته توتکې شي، ترانې وشيندي
چې د شاهين او د عقاب په کې وزر سوځي

څوک ډېره مخې مې په شناخته باندې اوښکې شيندي
چې مې د قبر خاوره هم لکه عنبر سوځي

اتـل هغـه دی چـې وطـن تـه خوشـالي ورکـوي
لکـه بـاران غونـدې ډاګونـو تـه کـالي ورکـوي

چې تـول سـرونه ورپسې دي، زمـوږ هغـه لاربنـود
د سـر دښـمن تـه نـن پګـړۍ د ابـدالي ورکـوي

چې سپين ورغوي ته يې ستوري لـه اسمانه راځي
د مينـې راز بـه يـې نجـوم او کـه فـالي ورکـوي

د اتـومي زمـانې ښـکلې دي، تېرباسـي خلـک
جـ تـه کـه زړه خپـل ورکـوي، هغـه خـالي ورکـوي

پرهرونـه د همـدې چـاره نظـر راکـړې
چې مې زړګي تـه اوس نامـه د ګلالـي ورکـوي

گلاب- گلاب يې د خنجر رنګ دی
ځکه مې زړه کې د پرهر رنګ دی

پر ګل خپور شوی تش غبار د حسن
دننه رنګ دی، که بهر رنګ دی

دا خو پسرلی هم ستا په شان وخته
له هره باغ، په سفر رئګ دي

د پېغلتوب جوش يې لبان رپوي
نن په ګلونو کې اوتر رنګ دی

مور يې د شونډو مزه څه ليدلې
له دې مقامه خو خبر رنګ دی.

❁

ښه ده له جامو نه راته نه وځي
مخ د ګلابونو نه به سره وځي

پرېږده د سخت زړو اوښکې څه کوې
کاڼي- کاڼي غره نه هم اوبه وځي

تنګ مې ارمانونه دي په زړه کې نور
دوی به له دې کلي نه پاخه وځي

ځانته يې زندان ترېنه جوړ کړی دی
ښکلي به زما له زړه نه څه وځي

دا مځکه اسمان دی د مېچن پلې
خلك خاورې- خاورې، لكه اوړه وځي

ننن يې جفا کړې ده له زړه سره
سره به مې وهمه زه له غره سره

دا د تور او سپين کيسه يو سر لري
بېل به شي اشنا، بوس او اوبه سره

حسن يې توهين د تورو غشو دی
کار وکړي د زړه يوه بانه سره

ليکې د اورګاډي به يو ځای نه شي
څه که دوه ياران دغسې تله سره

داسې توزې وې چې به په زغره تلې
غرونه به له ځايه خوځېده سره

وايي پرواز وکړه، شاهين غوندې وزر پيدا کړه
ژوند واقعات دي، حادثې دي، څه ځيگر پيدا کړه

خدايه! چې گورو هره ورځ د زړونو رنگ تورېږي
يوه څېره په دې گاونډ کې لکه لمر پيدا کړه

د جام جم خاونده پرېږده د کشمير خبره
که لاس دې رسي، نو بيا ما ته پېښور پيدا کړه

د ژوندانه مزه له درد سره په تور ورکوي
د ځان لپاره هره ورځ نوی خطر پيدا کړه

غوټۍ چې وغوړېږي، ستا نوم به اول اخلي
خو شرط به دا وي چې سينه باندې پرهر پيدا کړه.

په زړه کې مې دېره ده، په درزا کې رانه ورکه ده
اوښکو کې موسکې شي، په خندا کې رانه ورکه ده

نصيب هم کله- کله د کمره د مورگې گل اوسي
وعده د سپينې خولې په نن- سبا کې رانه ورکه ده

ما چې د وليانو په دعا باندې موندلې وه
پاکه شوه، نشه شوه، په مينا کې رانه ورکه ده

حرف د مدعا به مې د عرش پر لوري څه لاړ شي
نامه د معشوقې مې په دعا کې رانه ورکه ده

دغه معما ده، په همدې خو زه مجنون شومه
په وينه کې مې گرځي، په دنيا کې رانه ورکه ده

ځه وايې اشنا . نو ستا په خيال به دې زه پربږدمه
زړه تـه دې پريـوتې، چـې جمـال بـه دې زه پربږدمـه

تـا بـه راكـوي، گنـې اسـمان تـه بـه ټوپـك نيسم
ډېـر صـبر كـه وكـړم، ځـه خـو كـال بـه دې زه پربږدمـه

تــا د روايــاتو ، رواجونــو لمــن ونيــوه
ښـه ده ډېـره ښـه ده، پـه هـر حـال بـه دې زه پربږدمـه

پــس د فـضاگانو كــچ كولــو بــه راوگرځــې
الــوزه كــونړې! پــر اوبــال بـه دې زه پربږدمـه

ستا د تـور كاكـل او شينكي خـال راز مې موندلی دی
دام، ښـكاري خـو ځـه وايې، دا تـال بـه دې زه پربږدمه

پريـږده چـې د تـل غونـدې يـو بلـه وعـده ماتـه شي
لاس بـه درنـه ليـرې كـړمـه، شـال بـه دې زه پربږدمـه.

نن ارام یم، جادوګره مې یادېږي
څه عجب یم، ستمګره مې یادېږي

نور جهان چې هر څه وایي، رانه هېر شي
ستا یوه- یوه خبره مې یادېږي

چې الماس یې کړم، تراش یې کړم په مینه
رانه ورکه ده، زرګره مې یادېږي

چې مدام خپله کوي، د بل یې هېره
کمزوري ده، زوروره مې یادېږي

مینه څه وي، زه خبر وربانډې نه یم
خو بس دا چې مکرره مې یادېږي

چې د توري اب ته ګورم، خدایزده ولې
هغه سپینه مرغلره مې یادېږي

# زغره

که تقدیر یې ته جانانه نو زه پال یم
که ته سر شې، د سندرې درته تال یم

چې د بل د توغ هوا راباندې لګي
وچه زغره یمه، توره یمه، ډال یم

چې یې نجونې کشمالو ته اوبه کېږي
زه د داسې ښاپېرۍ د زنې خال یم

اور کې پایم، یا د اس تر پښو لاندې
په ځوانۍ کې یې کوږ کړی، لکه نال یم

ستا د ستورو اوښکو وار دی، دا به تېر شي
داسې نه ده چې به تل په دغه حال یم

رنګینۍ له کایناتو ټولومه
په فضا کې د شاعرۍ بوډۍ ټال یم

ما په تورو غشو ولئ خپله قامه
زه روښان یم، تاریکي یمه، خوشال یم

د ښکاري غشي دې تول زما نصیب شي
زه مین په ئافه بویه زلفو خال یم

هسې نه د مولانا شپېلۍ ته لاس کړم
څو خبرو کې ببخي لکه اقبال یم

د ځوانۍ فصل دې لولپه شه، ځیر شه
لور خو نه یم، د اختر د شپې هلال یم

د هومر غچ به هم زه ترېنه اخلم
افلاطون سره اخته په لوی جدال یم

ای خوشحال بابا په حقه دې کنځلي
د خپل قام له لاسه زه هم پر زوال یم

غبرگ به پایو . غبرگ به مور سره ماتېږو
زه د یار په کاني زړه کې لکه لال یم

# د یاغي ځوانانو سیمه

نه یزید و، نه دا سرې کربلا وه
شور د پېغلو و، د شین ګودر اروا وه

نه به دا سې زموږ کلي کې تیاره وه
نه پر تولو څلو شمعې وې، رڼا وه

د چرګانو جنګ، د تیرې ویشتل دود و
ښه خوږه د خوږ د غاړې مشغولا وه

درخانۍ د بام په سرو ګلو کې پټه
په حجره کې ربابونه وو، نوا وه

مردکي به پر کوکنارو زلې نه و
و لینده. یوه پټکه په کې زما وه

ما په سپین سحر بکرې لټولې
ځغلند ستوري لټول مې مشغولا وه

هغه ساګ وې همزولې ماشومانې
تورپېکې وه، ملالې به وه، رښا وه

دا فلك به په تصویر پسې اوبه و
له تبرانه به یې څرېکه د بریښنا وه

په جندو کې به پښغلو توکانې تاو کړل
د سنګدلو رام کول یې مدعا وه

بزګرانو کرونده وې، د سندرو
د کولبې د ګونګروګانو کړنګها وه

هیڅ کوتره به بې پیلو هلته نه وه
شرنګېدلې سندریزه مو فضا وه

دا د کفر، تفرق فلسفې نه وي
هره پرېکړه د حجرې او د ملا وه

له هر باغ سره جامونه د نرگس وو
په غاټولو سینه مسته د بیدیا وه

مرحلې د تصوف به مو لیدلې
چې پېشوا راته روزنه د بابا وه

یو یې خپله جنډه هسکه تر فلکه
بل چنار زمونږه نښه د بابا وه

شین زیارت هم یو څه لیرې پر غونډۍ و
کرونده وه، د شنو بنگو خانقا وه

دغه فرق خو د اغیارو تبلیغات وو
دا د نیا خو د ادم او د حوا وه

بس ترلې کولبې پاتې جنگ ته تللې
نغاره به که د جنگ او د غزا وه

دا د چــین ښــکلي زمــونږه مریــدان وو
زمانـــه چـــې د تیـــروان او د بـــودا وه

پـه جرګـه بانـدې مـو خـدای، رسـول قبـول کړ
لـــه اســلام ســره مــو مینــه بــرملا وه

دوه میلـــه ټوپـــك زمـــا پـــر اوږه پـــروت و
لــه هوســۍ ســره پــه ښـېر هـم څـه پـروا وه

بــې لــه خدایــه بــل قــانون پــه کــې ناشـونی
د یـــاغي ځوانـــانو ســـیمه وه، وفـــا وه

ټــول واکمــن هــم دومــره بــد او رســوا نــه وو
چـــا بـــه کـــړې پـــه څرګنـــده نـــاروا وه

میخانـــه او مـــسجد دواړه مـــخ پـــه مـــخ وو
چـــې پـــه کومـــه لاره تللـــې، ســـتا رضـــا وه

خـــدایږو وخـــت د لـــښکرو، نـــو مـــې خوښـــېږي
ســـرو لـــښکرو ســـره جنـــګ و، ابـــتلا وه

چې ځونډي به يې زما ټوپک ته ځيل و
د هغې جينۍ به تل راته دعا وه

هره پېغله مو ملاله د ګاونډ شوه
تناره ته به ولاړه هره نيا وه

بس دعاوې وې چې تلې د عرش پر لوري
چې جګړه به پر کنډو او پر بيديا وه

د اغيارو ماتول او ټکول وو
راته مخکې يوه لويه مدعا وه

توريېکۍ د برګودر پر سر شهيده
له ګاونډه کډه تللې، د رښا وه

مور پر لويه لار پر شوبلو پښې ايښې
حماسه مو د چم نه وه، د دنيا وه

که يې ګل په برچه غوځ کړ، جګ يې نه کړ
د بدرنګو چاره دومره ناروا وه

لکـــه پېغلـــې جـــګ برجونـــه ويـــشته نـــه وو
بـــې فطرتـــه کمـــونيزم تـــه بـــلا وه

د څرخـــې زنـــدان، چپـــه ځـــوانۍ خـــوړلې
چـــې غـــرور د ځنځيرونـــو يـــې ښـــکلا وه

دې غميـــزې د بـــڼ ونـــې نڅـــولې
د زلموتـــو د مرګيـــو بـــه غوغـــا وه

لېونيـــو د دنيـــا غـــرور مـــو مـــات کـــړ
ستاســـو زړونـــو کـــې خـــو هـــم يـــوه ســـودا وه

ځـــئ د دښـــتو، د بـــاغونو حـــق خـــو ورکـــړئ
چـــې راوړې مـــو پـــه خيـــال کـــې څـــه خنـــدا وه.

**پای**



**د شاعر اثار:**

۱. د طاووس بڼکه (شاعري) چاپ

۲. پاتې شه باران دی (ناول) چاپ

۳. منشور (کره کتنه) چاپ

٤. د اوښکو موسکا (هنري نثرونه) چاپ

۵. و خیمه ما از سایه هما بود (شاعري) چاپ

٦. سند ریزې چینې (شاعري) همدا اثر

۷. خیرې خبرې (حمزه پېژندنه) ناچاپ


میوند کلتوري ټولنه_ کندهار

چاپ چارې: د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه، کابل_ افغانستان